اَلنَّحْوُ فِي الْكَلَامِ كَالْمِلْحِ فِي الطَّعَامِ

النحو للناشئين

مؤلف
مولوي محمد حسن جان (مدني) عفا الله عنه
خادم و مدرس بجامعة العلوم الاسلامية العثمانية
قندهار- افغانستان

د نشر اداره :
جامعة العلوم الاسلامية العثمانية
د تاليف او ژباړي څانګه

بسم الله الرحمن الرحيم

د چاپ ټول حقوق په خپرونکي پوري اړه لري

د کتاب پېژندنه :

☜د کتاب نوم : النحو للناشئين

☜د ليکوال نوم : مولوي محمد حسن جان (مدني) عفا الله عنه

☜تصحيح کوونکي : اساتذة الجامعة

☜کمپوز او ډيزاين: محب الله (حماد)/ مولوي محمدزبير (سراج)

☜د چاپ کال: ۱۴۰۳هـ ش

☜د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

☜خپرونکي اداره: جامعة العلوم الاسلامية العثمانية،
دوهمه ناحيه، کندهار، افغانستان.

☜دترلاسه کېدلوځای : جامعه عثمانيه، عامه کتاب پلورنځی

بسم الله الرحمن الرحيم

مقدمه

الحمد لله رب العلمين، الرحمن الرحيم، مالك يوم الدين، والصلاة والسلام على رسول الله خاتم النبيين، واله وصحبه اجمعين.

و بعد : د هر علم د پيل څخه مخکي يوڅو ضروري خبري بايد ښه وپېژندل سي

- د علم تعريف (پېژندنه)
- د علم موضوع
- د علم غرض او فائده
- د علم مقام او مرتبه
- د علم واضع (بنسټ ايښونکی)

د علم النحو تعريف

علم نحو هغه علم ته ويل کيږي چي دهغه په ذريعه د کلماتو د يو بل سره د يو ځای کېدلو طريقه او د کلمې د آخري حرف (اعراب يا بناء) په معلوميږي.

د علم النحو موضوع

د علم نحو موضوع عربي کلمې دي.

د علم النحو غرض او فائده

د علم نحو غرض او فائده د عربي ژبي په ويلو او ليکلو کي د غلطۍ څخه ځان ساتل دي.

د عربي ژبي د کلمو تقسیم

د عربي ژبي لفظونه دوه ډوله دي : لفظ موضوع او لفظ مهمل

موضوع : هغه لفظ ته و یل کیږي چي د یو معنی لپاره مقرر سوی وي

لکه : قَلَمٌ، کِتَابٌ .....

مهمل : هغه لفظ ته و یل کیږي چي د معنی لپاره نه وي مقررسوی.

لکه : دَیْزٌ اوداسي نور.

او لفظ موضوع لفظ پر دوه ډوله دی **مفرد** او **مرکب**

مفرد

مفرد هغه یوه لفظ ته ویل کیږي چي د یوې معنی لپاره استعمالیږي او د مفرد بل نوم کلمه ده،

لکه : کِتَابٌ ،اَحْمَدُ، نَصَرَ.

د مفرد (کلمې) ډولونه :

مفرد پر درې ډوله دی (۱): اسم،(۲): فعل،(۳): حرف.

د اسم بیان

د اسم تعریف : اسم په لغت کي علامې اویابلندی (لوړوالي) ته و یل کیږي ، او په اصطلاح کي اسم هغه کلمې ته ویل کیږي چي یوازي دبلي کلمې دیوځای کېدلوپرته دمعنی لپاره کفایت کوي اوددرو زمانوڅخه یوه هم ورسره نه وي. لکه : قُرْاٰنٌ ، اَلتَّلْمِیْذُ، شَهِیْدٌ

---

[1] درې زمانې (۱): ماضي (تیروخت)، (۲): حال (روان وخت)، (۳): استقبال (راتلونکی وخت).

فعل

فعل : په لغت کي کار کولو ته وايي ، اوپه اصطلاح کي هغه کلمې ته ويل کيږي چي يوازي د بلي کلمې پرته د معنى لپاره کفايت کوي او ددرو زمانو ثخه يوه يادوې ورسره وي .

لکه : نَصَرَ، يَنْصُرُ.

حرف

د حرف تعريف : حرف په لغت کي طرف ته ويل کيږي ، اوپه اصطلاح کي و هغه کلمې ته ويل کيږي چي د استعمال پر وخت د بلي کلمې پرته د معنى لپاره کفايت نه کوي . لکه :

مِنْ	معنى (ثخه)	په دې مثال کي	(قَرَأْتُ مِنَ الْكِتَابِ)
اِلٰى	معنى (تر)	په دې مثال کي	(صَلَّيْتُ إلى الصَّبَاحِ)
فِيْ	معنى (کي)	په دې مثال کي	(شَرِبْتُ فِي الْكُوْزِ)
عَلٰى	معنى (باندى)	په دې مثال کي	(نِمْتُ عَلَى السَّقْفِ)

د اسم علامې

د اسم پېژندني ۱۶ علامې دي .

(۱) حروف جاره: حروف جاره پر اسم داخلېږي اوآخرته يې جرور کوي، حروف جاره اوولس دي :

شعر

[1] (باوتا وکاف ولام و واو ومُنْـــذُ ومُذْ ،خَلَا)

(رُبَّ، حاشآ، مِنْ، عَدٰا، فِيْ، عَن، عَلٰى، حَتّٰى، اِلٰى)

---

[1] مثالونه: (ب):لکه:بلوط،(ت):لکه: تاالله،(ک):کعاد ،(لا):لکه: للنّاس،(واو):لکه: وَرَبِّيْ،(منذ): منذيوم،(مذ): لکه: مذساعة، (خلا):لکه:خلابکرٍ،(رُبّ):لکه: رُبَّ رَجُلٍ،(حاشا):لکه حاشافرسٍ،(من):لکه:من المدرسة (عدا): لکه: عداقومٍ، (فى): لکه: فى المسجد ،(عن):لکه:عن المحيض،(على): لکه:على السقف، (حتى):لکه:حتى الرأس،(إلى):لکه: إلى باب

(۲) په سر (اَلْ) راسي . لکه : اَلْحَمْدُ، اَلرَّحْمٰن .

(۳) په شروع کي ميم زائده وي . لکه : مَنْصُوْرٌ، مَعْلُوْمٌ .

(۴) يې په آخر کي تنو ين وي . لکه : حَمْدٌ شَمْسٌ .

(۵) د يو چا يا د يو شی نوم وي. لکه : زُبَيْرٌ، اَحْمَدٌ، خَالِدٌ، بَيْتٌ.

(۶) تثنيه وي . لکه : قَلَمَان، شَاهِدَان.

(۷) جمع وي . لکه : مُؤْمِنُوْنَ، كَفَرَةٌ.

(۸) موصوف وي . لکه : رَاَيْتُ رَجُلاً عَالِمًا .

(۹) مضاف وي . لکه : قلمُ قَاسمٍ .

(۱۰) مسنداليه وي . لکه : اَلْكِتَابُ جَدِيْدٌ .

(۱۱) په آخر کي الف مقصوره[1] وي . لکه : بُشْرٰى، ضُرْبٰى

(۱۲) په آخر کي الف ممدوده راغلی وي. لکه: عُلَمَآء، فُقَرَآء

(۱۳) په سر کي يې حروف مشبه بالفعل راغلي وي.

حروف مشبه بالفعل شپږدي:

(اِنَّ ، اَنَّ ، كَاَنَّ ، لَيْتَ، لٰكِنَّ ، لَعَلَّ)

مثالونه: اِنَّ الْحَمْدَ ، اَنَّ الْقُوَّةَ ، كَاَنَّ اللهَ ، لَيْتَ لِيْ كِتَاباً، لٰكِنَّ اللهَ، لَعَلَّ اللهَ.

(۱۴) اسم منسوب. لکه: بَغْدَادِيٌّ، غَزْنَوِيٌّ، قَنْدَهَارِيٌّ.

(۱۵) تصغيروي. لکه: قُرَيْشٌ، سُدَيْسٌ.

(۱۲) جمع اقصی وي. لکه: مَسَاجِدُ، مَصَابِيْحُ

---

[1] الف مقصوره هغه الف ته وايي چي دده وروسته همزه او ساکن حرف نه وي

د فعل علامې

(د فعل پېژندني (۸) علامې دي)

(۱) چې حروف أتين (أ، ي، ت، ن) يې په سرکي راسي .

لکه: أَنْصُرُ-نَنْصُرُ-يَنْصُرُ-تَنْصُرُ

(۲) چې حروف ناصبه يې په سرکي راسي،حروف ناصبه څلوردي ،

(اَنْ،لَنْ، کَيْ،اِذَنْ) مثالونه: اَنْ يَّضْرِبَ—لَنْ يَّضْرِبَ—کَيْ يَّضْرِبَ - اِذَنْ يَّضْرِبَ.

(۳) چې نون تاکيد راسي، نون تاکيد دوه قسمه دی:

۱ ثقيله، ۲ خفيفه. مثالونه: اُنْصُرَنْ- اُنْصُرَنَّ.

(۴) دماضي صيغه وي، نَصَرَ- نَصَرَا.

(۵) دامرصيغه وي،اُنْصُرْ- اُنْصُرَا.

(۶) چې قد ، سوف ، او سين يې په سر کي راغلي وي . لکه : قَدْنَصَرَ (په تحقيق سره مرسته يي وکړه)، سَيَدْخُلُ (اوس داخليږي) ، سَوْفَ يَضْرِبُ (ژر به وهل وکړي) .

(۷) چې کله حروف جوازم پر راسي . لکه : لَمْ يَضْرِبْ (وهل يي نه دي کړي) .

حروف جوازم پنځه دي: أن ، لم ، لما ، لا امر، لام نهی .

(۸) چې ضمير مرفوع متصل ورسره راسي . لکه : کَتَبُوْا .

د حرف علامې

د حرف علامه داده ، چې په کومه کلمه کي د اسم او د فعل علامه نه وي هغه حرف دی .

تمرين ١

گرانو شاگردانو راتلونکي پوښتنو ته جوابونه ووایاست!

(١): کلمه څه شی ده؟

(٢): دمفرد او کلمې ترمابین څه فرق دی؟

(٣): دحرف لغوي معنی څه ده؟

(٤): داسم اصطلاحي معنی څنګه کېږي؟

(٥): دفعل پوره تعریف څنګه دی؟

(٦): په عربي ژبه کي څو کلمې دي؟

(٧): حروف جاره څو او کوم دي ؟

(٨): اسم منسوب چاته وایل کیږي؟

(٩): دتصغیر تعریف وکړئ؟

تمرين ٢

درنو شاگردانو په لاندي کلمو کي اسم، فعل، حرف او دهغه علامه وښیاست!

(١): وَاُشْرِبُوْا (٢): فِي قُلُوبِهِمْ (٣): اَلْعِجْلَ (٤): لَاتَجْعَلُوْا (٥): مَعَ اللهِ (٦): إِلٰهًا

(٧): لَنْ نُؤْمِنَ (٨): لَكَ (٩): حَتّٰى نَرَى اللهَ (١٠): جَهْرَةً (١١): مَثَلُ نُورِهِ

(١٢): كَمِشْكَاةٍ (١٣): اَلْيَدُ الْعُلْيَا (١٤): خَيْرٌ (١٥): مِنَ الْيَدِ السُّفْلٰى (١٦): لَقَدْ خَلَقْنَا

(١٧): اَلْإِنْسَانَ (١٨): فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ (١٩): رَبُّ الْمَشْرِقِ (٢٠): رَبُّ الْمَغْرِبِ

(٢١): إِنَّ الصِّدْقَ (٢٢): يُنْجِيْ (٢٣): لِلْمُتَّقِينَ (٢٤): سَيَعْلَمُ (٢٥): سَوْفَ تَأْكُلُ

(٢٦): لَيْتَ لِيْ قُوَّةً (٢٧): لَمَّا يَضْرِبُوْا (٢٨): لَاتَقْتُلْ (٢٩): اُنْصُرْنَ (٣٠):

جَمَاهِيْرُ.

د مرکب تعریف

مرکب : هغه لفظ ته و یل کیږي چي د دوو یا د دوو څخه زیاتو کلمو څخه جوړ وي .

مرکب پر دوه ډوله دی : مرکب مفید ، او مرکب غیر مفید .

مرکب مفید

مرکب مفید: هغه مرکب ته و یل کیږي چي د هغه اورېدونکی و پوهیږي چي د ویونکي مطلب د یو شي خبر بیانول دي ، یا د یو کار غوښتنه ده ، لکه : مُحَمَّدٌحَاضِرٌ (محمد حاضر دی) اُنْصُرْاَخَاکَ ! (د خپل ورور مرسته وکړه)، (محمد حاضر دی) دخبرورکولولپاره و یل کیږي اود (خپل ورور مرسته وکړه) دمرستي غوښتنه ده.

فائده : مرکب مفید نور نومونه هم لري : لکه مرکب تام ، مرکب اسنادي ، جمله او کلام .

مرکب غیر مفید

مرکب غیر مفید : هغه مرکب ته ویل کیږي چي د هغه اورېدونکی ونه پوهیږي چي دویونکي د یو شی خبرور کول او یا غوښتنه کول دي.

لکه قَلَمُسَعِيْدٍ (د سعید قلم)

د مرکب مفید (جملې) اقسام

جمله پر دوه قسمه ده : جمله خبر یه ، جمله انشائیه .

جمله خبریه : هغه جملې ته ویل کیږي چي و یونکي ته یې ریښتنی یا درواغجن ویل کېدای سي . لکه اَلْعِلْمُنُوْرٌ (علم روښنائي ده) .

او جمله خبریه پر دوه قسمه ده : جمله اسمیه ، جمله فعلیه .

جمله اسميه : هغه جملې ته و يل کيږي چې لومړی جزء يې اسم وي .
لکه اَحْمَدُ طَالِبٌ (احمد طالب دی)، په دغه جمله کې اول جزچې احمد دی اسم دی.
جمله فعليه : هغه جملې ته ويل کيږي چې لومړی جزء يې فعل وي .
لکه طَلَبَ زَيْدٌ (يعني زيد غوښتنه وکړه) اول جز يې (طَلَبَ) فعل ماضي ده.

جمله انشائيه

جمله انشائيه : هغه جملې ته ويل کيږي چې ويونکي ته يې ريښتنی يا درواغجن نه سي ويل کېدلای . لکه : [1] اُكْتُبِ الدَّرْسَ (درس وليکه !) .
اِقْرَأْ (قرائت ووايه !) .
په دغه جملوکې ويونکی دتېروخت حال نه بيانوي چې ورته دريښتوني اويادرواغجن نسبت وسي ، بلکې ديوې نوي خبري حکم کوي چې په دغسي خبره کې و يونکي ته صادق اوکاذب نه و يل کيږ ي.

[1] دغه جمله که څه هم په وا قع کې ريښتونې ده خود و يلو پروخت يې و و يونکي ته در يښتيا او درواغو نسبت کېد لای سي.

د جمله انشائیه ډولونه

- **امر** : د یو کار غوښتني ته ویل کیږي لکه : اُنْصُرْ (مرسته وکړه)
- **نهي** :د یو کار د نه کولو غوښتني ته ویل کیږي . لکه لَاتَضْرِبْ (وهل مه کوه) .
- **استفهام** : د یو شی په اړه پوښتني ته ویل کیږي . لکه :هَلْ دَرَسَ الْاُسْتَاذُ ؟ (ایا استاذ درس وویلی ؟) .
- **تمني** : د یو شي هیله کول . لکه : لَيْتَ الشَّبَابَ يَعُوْدُ(کاشکي ځواني راګرځېدلای)
- **ترجي** :د یو شی ارزو او امید کول . لکه : لَعَلَّ عَمْرًو اغَائِبٌ (امید کوم چي عمرو به نه وي .
- [1]**عقود** :د تړون الفاظو ته و یل کیږي . که د راکړي ورکړي پر مهال وي که د نکاح تړلو پر وخت وي .لکه : بِعْتُ (ما خرڅ کړی دی) اِشْتَرَيْتُ (ما رانیولی دی) .
- **ندا** : د رابللو اواز ته ویل کیږي . لکه : يَااَللّٰهُ (یااللـــــهي !) يَا زَيْدُ(اې زیده) .
- **عرض** :په نرم ي سره ترغیب ورکولو ته ویل کیږي ، لکه :اَلَاتَنْزِلُ بِنَافَتُصِيْبَ خَيْرًا .
- **قسم** :د یوې خبري د ټینګښت لپاره قسم اخیستل ، لکه : وَاللّٰهِ لَاَفْعَلَنَّ كَذَا(په الله قسم زه به داسی کوم) .

---

[1] **فائده** : عقود د عقد جمعه ده ، یعني تړون .

- **تعجب** : حيرانتيا ته ويل کيږي . لکه مَاأَحْسَنَهُ (څومره ښائسته دی) .
- **فعل مدح** : د ستايني فعل ته ويل کيږي . لکه : نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ (زيد ډير ښه سړی دی) .
- **فعل ذم** : د بدي او سپکاوي فعل ته ويل کيږي . لکه بِئْسَ الرَّجُلُ فِرْعَوْنُ (فرعون ډير بد سړی دی) .

مرکب غير مفيد

مرکب غير مفيد پنځه ډولونه لري :

(۱): مرکب اضافي (۲): مرکب توصيفي (۳): مرکب بنائي

(۴): مرکب صوتي (۵): مرکب منع صرف.

مرکب اضافي

(۱): **مرکب اضافي** : هغه مرکب ته ويل کيږي چي د يوه اسم نسبت و بلي کلمې ته وسي . مثال : رسول الله (دالله (جَلَّ جَلَالُهُ) رسول)، ايت الله (ددالله (جَلَّ جَلَالُهُ) ايت).

فائدی

(۱): د مرکب اضافي اول جزء ته مضاف ويل کيږي ، دوهم ته يې مضاف اليه ويل کيږي او د مضاف او مضاف اليه مجموعي نسبت ته (اضافة) ويل کيږي .

(۲): پر مضاف باندی الف و لام ، تنوین ، د تثنیې او جمع نون نسي راتلای ، نو کله چي موږ یوه کلمه و بلي کلمې ته مضافوو لومړی به مذکوره شیان ورڅخه ایسته کوو، لکه په مذکوره مثال کي (رسول) مضاف دی او(الله) مضاف الیه نوپررسول الف ولا م، تنوین، دتثنیې اوجمع نون نسته!

(۳): د مضاف او مضاف الیه د پېژندلو یوه نښه داده کله چي پښتو ته ترجمه سي نو په سر کي یې دال راځي او مضاف الیه پر مضاف رامخته کیږي . لکه : رَسُوْلُ اللهِ (د الله(جَلَّ جَلَالُهٗ) رسول) بَيْتُ اللهِ (د الله (جَلَّ جَلَالُهٗ) کور) .

(۲):مرکب توصیفي

مرکب توصیفي : هغه مرکب ته ویل کیږي چي دوه اسمه سره یو ځای سوي وي اول یې موصوف (ستایل سوي) اودوهم یې صفت (ستاینه) وي لکه : رَجُلٌ عَالِمٌ، اَلْعَامُ الْمُقْبِلُ . په اول مثال کي رجلٌ موصوف اوعالم صفت دی.

فائده: د موصوف او صفت ترجمه هم په پښتو کي سره اوړي یعني صفت اول کیږي او موصوف وروسته کیږي . مثال اَلْمَدْرَسَةُ الْاِسْلَامِيَّةُ(اسلامي مدرسه) كِتَابٌ جَيِّدٌ (ښه کتاب) .

(۳):مرکب بنائي

مرکب بنائي : هغه ته ویل کیږي چي د دوو اسمونو څخه جوړ وي او دوهم اسم حرف ته متضمن وي . لکه : اَحَدَعَشَرَ چي په اصل کي داسي دی اَحَدَ وَّعَشَرَ .دلته دوهم اسم چي عَشَرَ دی حرف ته متضمن دی.

فائده: د عربي ژبي عددونه د اَحَدَعَشَرَ (یوولسو) څخه پورته بیا تر تِسْعَةَ عَشَرَ (نوولسو) پوري مرکب بنائي دي، البته د اِثْنَاعَشَرَ (دوولسو) څخه ماسوا.

(۴):مرکب صوتي

مرکب صوتي : هغه مرکب ته و یل کیږي چي ددوو اسمونو څخه جوړ وي البته دوهم اسم یې آواز وي، لکه : سیبویه ، نفطو یه ، چي په مذکوره مثالو کي (و یه) صرف یو اواز دی .

فائده: سیبویه د دوو اسمونو څخه جوړ دی یو ئې (سیب) او بل ئې (ویه) دی چي اوس د نحوي د یو ستر او مشهوره امام نوم دی .

(۵):مرکب منع صرف

مرکب منع صرف: هغه مرکب ته ویل کیږي چي دوه اسمه یې یوکړي وي اودوهم اسم یوحرف ته متضمن یعني په څنګ کي اخستونکی نه وي لکه: بعلبک ، حضرموت -په اول مثال کي (**بعل**) او (**بک**) **جلا جلا** کلمې دي (**بعل**) دبت نوم وو او (**بک**) دباچا نوم وو وروسته دواړي کلمې یوه وګرځول سوه دیوه ښارنوم وګرځېدی.

فائده: دمرکب غیرمفید اولودوو(۲) قسمونوته مرکب تقیېدي ویل کیږي اوآخري درې قسمونوته مرکب غیرتقیېدي ویل کیږي.

تمرين ١

گرانو شاگردانو راتلونکو پوښتونو ته جوابونه ووایاست!

(١): مرکب کوم لفظ ته ویل کیږي؟

(٢): مرکب اولاًڅو قسمونه لري؟

(٣): دمرکب مفید او غیر مفید تعریفونه وکړئ.

(۴): مرکب مفید اولاًڅو قسمونه لرئ.

(۵): مرکب غیر مفید څو قسمونه لرئ.

(۶): دجملې تعریف څه ډول دی.

(٧): دجملې او مرکب مفید ترمابین څه توپیر دی؟

(٨): مرکب تقییدي کوم کوم قسم ته ویل کیږي؟

(٩): مرکب تقییدي څو اقسام لري؟ دهر یوه نوم ووایه.

(١٠): دجمله انشائیه تعریف څه ډول دی؟

(١١): دجمله خبریه تعریف څه ډول دی.

(١٢): دجمله خبریه څو قسمونه دي؟ نومونه یې ووایه.

(١٣): دجمله اسمیه او جمله فعلیه ترمابین فرق روښانه کړئ.

(١۴): دمرکب اضافي تعریف څنګه دی.

(١۵): دمرکب توصیفي تعریف او یو مثال ووایه، البته دکتاب دمثال څخه ماسوا.

(١۶): دمرکب صوتي تعریف وکړه.

(١٧): دجمله انشائیه قسمونه څودي.

(١٨): دجمله انشائیه دڅلورو قسمونو نومونه ووایه.

(١٩): دامر اونهي ترمابين څه فرق دی.

(٢٠): دتمني اوترجي ترمابين فرق واضح کړه .

(٢١): دمرکب منع صرف تعريف اومثال واضح کړه.

(٢٢): داستفهام تعريف وکړه.

(٢٣): استفهاميه جمله خبريه ده اوکه انشائيه.

(٢٤): دعقودڅخه مطلب څه دی ؟روښانه يې کړه.

(٢٥): د ﴿خَتَمَ اللهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ وَعَلَى سَمْعِهِمْ ﴾ کلمې څوعدده دي؟

(٢٦): په پورتنۍ جمله کي دمرکب بشپړ تفصيل روښانه کړه.[1]

---

[1] **تدريسي مشوره** : محترم مدرس صاحب دي په هرطالب العلم باندي داول تمرين سوالونه جواب کړي ترڅوچي پورته پښتونوته يې صحيح جواب نه وي ويلي، مخته درس دي نه ورته وايي – په احترام .

تمرين ۲

ګرانو شاګردانو: راتلونکي مثالونه وګورئ، فکر او غور پکښې وکړئ او راتلونکي معلومات وو ایاست![1]

(**الف**): مفرد دي او که مرکب؟ (**باء**): دمفرد کوم قسم دي ؟

(**جيم**): دمرکب په صورت کي دکلمو تعداد وښیاست!

(**دال**): مرکب مفید او غیر مفید معلوم کړئ.

(**زاء**): دمرکب مفید او غیر مفید قسم وښیاست!

(**هـ**): جمله خبریه او انشائیه معلوم کړئ.

(۱): اَلدَرَجَةُ الْأُوْلى، (۲): لاَتَكْذِبْ، (۳): خَدَمْتُ رَسُوْلَ اللهِ، (۴): اَللهُ رَبُّنَا

(۵): جَاءَ اَخُوْكَ، (۶): رَأَيْتُ حَضْرَمَوْتَ، (۷): هَلْ دَرَسْتَ، (۸): لَيْتَ الشَّبَابَ

يَرْجِعُ، (۹): اَلْمَسْجِدُ لِلّٰهِ، (۱۰): اَلْمَوْتُ حَقٌّ، (۱۱): سيَقُوْلُ السُّفَهَاءُ،

(۱۲): يَتْلُوْا صُحُفًا مُّطَهَّرَةً، (۱۳): لَعَلَّ اللهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَالِكَ اَمْراً،

(۱۴): ضَرَبَ اللهُ مَثَلاً، (۱۵): هَلْ اَنْتَ فِي الصَّفِّ السَّادِسِ، (۱۶): هُوَ يَجْتَهِدُ،

(۱۷): اَلْجَوُّ حَارٌّ، (۱۸): اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ،

(۱۹): تَاللهِ لَأَكِيْدَنَّ أَصْنَامَكُمْ، (۲۰): يَا اَللهُ، (۲۱): هذَا قَلَمُكَ،

(۲۲): تَزَوَّجْتُ، (۲۳): بِعْتُكَ.

---

[1] **تدريسي مشوره** : محترم مدرس صاحب دي په خپلو شاګردانو مثالونه ښه تمرين کړي او ددې ترڅنګ دي دقرآن مجید څخه هم ښه زیات مشق او تمرین وکړي، او یاده دي وي چي داستاذ لخوا رأساً پوښتني او جوابونه دطالب العلم دپیاوړتیا لپاره ډیره اغېزه لري، –په احترام.

د اسم اول تقسیم (دتعدادپه اعتبار)

اسم د تعداد په اعتبار پر درې ډوله دی : واحد ، تثنیه ، جمعه .

واحد : هغه اسم ته و یل کیږ ي چي پر یوه دلالت کوي، لکه : رَجُلٌ (یو سړی) .

تثنیه : هغه اسم ته و یل کیږي چي پر دوو دلالت کوي ، لکه : رَجُلَانِ (دوه نفره).

جمع : هغه اسم ته ویل کیږ ي چي د دوو څخه پر ز یاتو دلالت کوي ، لکه : رِجَالٌ (ډېر خلك)

د جمع بیان

جمع دوه تقسیمه لري : اول تقسیم یې د لفظ په اعتبار دی دوهم تقسیم یي د معنی په اعتبار دی .

اول تقسیم : جمعه د لفظ په اعتبار پر دوه قسمه ده :

(۱): جمع مکسر، (۲): جمع سالم .

جمع مکسر : هغه جمع ته ویل کیږ ي چي په هغه کي د واحد وزن سلامت پاته نه وي، لکه: (رِجَالٌ) چي واحد یې (رَجُلٌ) دی (اَنْصَارٌ) چي واحد یې (نَاصِرٌ) دی .

جمع سالم : هغه جمع ته ویل کیږي چي په هغه کي د واحد وزن سلامت پاته وي او پر دوه ډوله ده : ۱ جمع مذکر سالم ، ۲ جمع مؤنث سالم

مثالونه :مُسْلِمُوْنَ، مُسْلِمَاتٌ

فائده: جمع مذکرسالم هغه جمع ته ویل کیږي چي په آخرکي یې واواونون یاهم یاء اونون وي: لکه : مُسْلِمُوْنَ، مُسْلِمِيْنَ اوجمع مؤنث سالم هغه جمع ته ویل کیږي چي په آخرکي یې الف اویاوي : لکه : مُسْلِمَاتٌ .

د جمع دوهم تقسیم

جمع د معنی په اعتبار دوه ډوله ده : **جمع قلت** او **جمع کثرت** .

جمع قلت : هغه جمعي ته ویل کیږي چي افراد یې تر لسو (١٠) کم وي د جمع قلت لپاره تاکل سوي شپږ وزنونه مشهور دي .

- اَفْعُلٌ ـ لکه : (اَكْلُبٌ) چي واحد یې (كَلْبٌ) دی .
- اَفْعَالٌ ـ لکه : (اَقْوَالٌ) : چي واحد یې قَوْلٌ (وینا) ده .
- اَفْعِلَةٌ ـ لکه : (اَعْوِنَةٌ) چي واحد یې عَوْنٌ (ډیر عمره) دی .
- فِعْلَةٌ ـ لکه : (غِلْمَةٌ) واحد یې غُلَامٌ(هلک) دی .
- مُسْلِمُوْنَ ـ جمع مذکر سالم چي الف لام نه وي باندي راغلي
- مُسْلِمَاتٌ ـ جمع مؤنث سالم چي الف و لام نه وي باندي راغلي

جمع کثرت : هغه جمع ته ویل کیږي چي افراد یې لس یا تر لسو زیات وي .

- د جمع قلت د شپږ و اوزانو څخه علاوه نور اوزان د جمع کثرت دي .

تمرین ۱

گرانو شاگردانو راتلونکو سوالونو ته صحیح جوابونه ووایاست !

(۱): اسم دعدد په اعتبارڅو قسمه دی؟

(۲): واحد ، مثنی اوجمع څه شي ته وايي ؟

(۳): جمع قلت کومه جمعه ده ؟

(۴): جمع کثرت کومه جمعه ده ؟

(۵): جمع سالم کومي جمعي ته ويل کيږي؟

(۶): جمع مکسر کومي جمعي ته ويل کيږي ؟

(۷): جمع مذکر سالم اوجمع مؤنث سالم څه فرق سره لري ؟

(۸): دجمع قلت اوزان څو اوکوم دي؟

(۹): دجمع کثرت اوزان څو اوکوم دي؟

(۱۰): جمع دلفظ اومعنی په اعتبارڅه فرق لري؟

تمرين ٢

ګرانو شاګردانو ! لاندي مثالونه وګورئ او ووايا ست ! واحد دي که تثنيه يا جمع ، که جمع وي نو قلت ده او که کثرت همدا اوول مکسره ده او که سالم د سالم په صورت کښي مذکره ده او که مؤنث ؟

(١): اَللّٰهُ اَحَدٌ، (٢): رِجَالٌ لاَتُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ، (٣): تَجْرِى الْاَنْهَارُ، (٤): اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ، (٥): فِيْهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ، (٦): طَلاَقُ الْأَمَةِ تَطْلِيْقَتَانِ، (٧): اَلْجَنَّةُ تَحْتَ أَقْدَامِ الْأُمَّهَاتِ، (٨): اَلتَّاجِرُ الصَّدُوْقُ مَعَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِيْنَ، (٩): شُمُوْسُ الْعِلْمِ، (١٠): كِتَابُ قَوَاعِدِ النَّحْوِ، (١١): حَضَرَ التَّلاَمِيْذُ، (١٢): خَلَقَ الْاَرْضَ فِيْ يَوْمَيْنِ، (١٣): اَلشَّيْخَانِ أَفْضَلُ الصَّحَابَةِ، (١٤): مَدْرَسَةُ الْأُنَاثِ، (١٥): آبَارُ الْمِيَاهِ، (١٦): صُفُوْفُ الْمُصَلِّيْنَ مُسْتَوِيَةٌ، (١٧): قَلَمَانِ أَخْضَرَانِ، (١٨): هُوَ طَالِبٌ جَيِّدٌ، (١٩): اَلْأَسَاتِذَةُ مُشْفِقُوْنَ.

داسم دوهم تقسيم (دجنس په اعتبارسره)

اسم د جنس په اعتبار پر دوه ډوله دی: ۱ مذکر ۲ مؤنث .

مذکر : هغه اسم ته ویل کیږي : چي د تانیث علامه نه وي پکښي راغلې . لکه : رَجُلٌ، کِتَابٌ، قَلَمٌ .

مؤنث : هغه اسم ته ویل کیږي چي د تانیث علامه پکښي راغلې وي،د تانیث علامې څلوردي :

۱. **کول تا** (ة) چي د وقف په حالت کي په (ها) بدلیږي.لکه: طَلْحَة ، قَلَنْسُوَةٌ .

۲. **الف مقصورة ـ لکه** : صُغْرٰی، کُبْرٰی، عَصًا .

۳. **الف ممدودة ـ لکه** : حَمْرَاءٌ، بَيْضَاءٌ، صَفْرَاءٌ.

۴. **مقدره تا ء ـ لکه** : أَرْضٌ چي په اصل کي أَرْضَةٌ ده.

دمؤنث ډولونه

مؤنث د استعمال په اعتبار پر دوه قسمه دی : مؤنث قیاسي او مؤنث سماعي .

مؤنث قیاسي : هغه مؤنث ته ویل کیږي چي د هغه په لفظ کي د تانیث علامه وي . لکه : طَلْحَةُ، اِمْرَاَةٌ، نَاقَةٌ، صُغْرٰی[1] .

---

[1] الف مقصوره او الف ممدوده تعریف په الصرف للناشئین کي وګورئ

مؤنث سماعي : هغه مؤنث ته ویل کیږي چي په لفظ کي یې د تانیث علامه نه وي البته عرب خلك یې په خپلو ویناوو کي مؤنث استعمالوي . لکه: اَرْضٌ،شَمْسٌ .

فائده :

ځیني مؤنث سماعي په لاندي ډول دي :

- هغه ټول اسمونه چي دښځینه وو لپاره ایښودل کیږي، لکه : مَرْيَمُ،زَيْنَبُ ،اَسْماء .
- هغه ټول اسمونه چي د ښځینه لپاره خاص وي . لکه : اُمٌّ،اُخْتٌ
- هغه ټول اسمونه چي د یوه ښار یا د یوې قبیلې (ټبر) نومونه وي ، لکه : مِصْر،شام،قریش،اوس،خزرج.
- د انسان په بدن کي چي کوم اندامونه دوه دوه دي د هغو اسمونه مؤنث دي ، لکه : يَدٌ،عَيْنٌ،رِجْلٌ ، مګر (صَدْغٌ،مِرْفَقٌ، حاجِبٌ او خَدٌّ) مذکر دي .

تمرين ١

گرانو شاگردانو! راتلونکي سوالونه جواب کړئ!

(١): اسم په اعتبار دجنس پرڅو قسمه دی؟

(٢): مذکر او مؤنث کوم کوم اسم ته ویل کیږي؟

(٣): مؤنث قیاسي او سماعي څه توپیر سره لري؟ روښانه یې کړئ.

(۴): دتأنیث علامې څو او کومې دي؟

(۵): په مؤنث پوري خاص اسمونه کوم ډول دي ؟

(۶): دښارونو مونه مذکر دي او که مؤنث؟

(٧): دقبیلونو مونه مذکر وي او که مؤنث ؟

تمرين ۲

ګرانو شاګردانو! په لاندي مثالونو کي وګورئ اولاً مذر او مؤنث وښوئ او بيا وواياست چي مؤنث سماعي دي او که قياسي، که قياسي وي نو د تأنيث علامه يې وښوئ.[۱]

(۱): زَيْنَبُ، (۲): جَعْفَرٌ، (۳): كِتَابٌ، (۴): مَكْتَبَةٌ، (۵): بَيْتٌ، (۶): قُرَيْشٌ، (۷): حَائِضٌ، (۸): حَامِلٌ، (۹): خَدٌّ، (۱۰): كَعْبٌ، (۱۱): اَوْسٌ، (۱۲): خَزْرَجٌ، (۱۳): فِلَسْطِيْن، (۱۴): حَمْرَاءُ، (۱۵): اَلشَّمْسُ، ۱۶): بَنُوْقُرَيْظَةَ، (۱۷): سَلِمَةُ، (۱۸): اَحْمَدُ، (۱۹): جَمْرَةٌ، (۲۰): اُوَيْسٌ، (۲۱): قَصْوَى، (۲۲): مَدَائِنٌ، (۲۳): مَدْيَنٌ، (۲۴): كابل، (۲۵): جُرْهَمٌ، (۲۶): نَاقَةٌ، (۲۷): مَكَّةٌ، (۲۸): جَمَلٌ، (۲۹): مِنْ مِصْرَ (۳۰): بِبَكَّةَ.

---

[۱] **تدريسي مشوره**: محترم مدرس صاحب دي په خپلو شاګردانو مثالونه ښه تمرين کړي او د دې ترڅنګ دي د قرآن مجيد څخه هم ښه زيات مشق او تمرين وکړي، او ياده دي وي چي د استاذ لخوا رأساً پوښتني او جوابونه د طالب العلم د پياوړتيا لپاره ډيره اغېزه لري، – په احترام.

د اسم دوهم تقسیم

اسم د پېژندني په اعتبار پر دوه ډوله دي معرفه ، نکره .

معرفه : هغه اسم ته ویل کیږي چي د ټاکلي او معلوم شي لپاره ایښودل سوی وي ، لکه : زُبَيْرٌ، اَحْمَدُ .

نکره: هغه اسم ته ویل کیږي چي د یو نا معلوم شي لپاره ایښودل سوی وي ، لکه : رَجُلٌ (یو سړی) فَرَسٌ (یو اس).

د معرفه ډولونه

معرفه اووه ډولونه لري :

۱. **ضمائر** (ضمیرونه) ، لکه : هُوَ، اَنْتَ، اَنَا .
۲. **اَعْلام** (نومونه) ، لکه : عُمر، اسامة، عبدالله .
۳. **اَسْمآء اشارات** ، لکه : هٰذَا، ذٰلِكَ .
۴. **اسماء موصولات** ، لکه : اَلَّذِیْ، اَلَّتِیْ .
۵. **معرف بـــ (اَلْ)** ، لکه : اَلرَّجُلُ، اَلْمَلِكُ.
۶. **بالاضافة** : یعني د مخکنیو پنځو قسمونو طرفته د یو اسم مضاف کول ، لکه : كِتَابُهُ، قَلَمُ بَكْرٍ، كِتَابُ هٰذَا، غلام الَّذِیْ، هِدَايَةُ النَّحْوِ .
۷. **معرفه په ندا سره** ، مثال : يَا رَجُلُ

یادونه : د معرفه د مذکور اوو ډولونو څخه علاوه نور ټول اسمونه نکره دي .

تمرين ۱

گرانو شاگردانو! راتلونکو سوالونو ته صحیح جواب ووایاست!

(۱): معرفه اسم کوم یودی تعریف یې کړه؟

(۲): نکره اسم کوم یودی تعریف یې کړه؟

(۳): معرفه څوقسمونه لري؟ نومونه یې ووایه.

(۴): ضمائرڅه شي ته وایې؟

(۵): دمعرفه بالا ضافة څوقسمونه دي ؟

(۶): دمعرفه بالاضافة مثالونه ووایه!

تمرين ۲

گرانو شاگردانو! لاندي مثالونه وگورئ! معرفه اونکره پکښې معلوم کړئ او ورپسې دمعرفې فسم معلوم کړئ!

(۱): كِتَابٌ، (۲): عُمَرُ، (۳): قَلَمِيْ، (۴): مَدْرَسَةُ الْبَنِيين، (۵): اَلسُّوْقُ، (۶): هُوَدٌ،

(۷): اَنَا، (۸): اَنْتَ، (۹): تَعْلِيْمُ النِّسَاءِ، (۱۰): مُعَلِّمَةُ الْبَنَاتِ، (۱۱): يَااَللهُ (۱۲): هذِهِ،

(۱۳): هؤُلآءِ، (۱۴): مُحَمَّدٌ، (۱۵): يَدٌ، (۱۶): رَأْسٌ، (۱۷): اَللَّتِيْ، (۱۸): يآيَحْى،

(۱۹): اِبْرَاهِيْمُ، (۲۰): بِنْتٌ، (۲۱): ذَالِكُمْ، (۲۲): مَكْتَبٌ، (۲۳): اَلْمَكْتَبَةُ،

(۲۴): كِتَابُكَ، (۲۵): جَبَلُ الرَّحْمَةِ، (۲۶): نَحْنُ، (۲۷): حياءُ عثمانَ،

(۲۸): والَّذانِ، (۲۹): مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ، (۳۰): يازكريا.

(فصل)

د معرب او مبني بيان

عربي کلمې پر دوه ډوله دي : **معرب** ، **مبني** .

معرب : هغه کلمې ته ويل کيږي چي د عامل د بدلېدلو له کبله يې آخر بدليږي .

مبني : هغه کلمې ته ويل کيږي چي د عامل د بدلېدلو له کبله يې آخر نه بدليږي ، لکه شاعر وايي :

شعر

مبني آن باشد که ماند بـر قرار
معرب ان باشد که گردد بار بار

دمبني بيان (دمبني ډولونه)

منبي اصلاً پر دوه قسمه ده:

مبني الاصل [1] ، غير مبني الاصل .

مبني الاصل درې دي فعل ماضي ، فعل امر حاضر معلوم ، ټوله حروف .

غير مبني الاصل درې دي اسم غير متمکن ، اسم متمکن (چي په ترکيب کي نه وي واقع) فعل مضارع چي (نون د تاکيد) او يا (نون د جمعه مؤنث) ور باندي راغلي وي .

---

[1] د علامه زمخشری په قول مبني الاصل څلور دي درې يې مذکور او څلورم جمله من حيث هي ده

د اسم غیر متمکن ډولونه

اسم غیر متمکن پر اته ډوله دی :

(۱): مضمرات، (۲): اسماء اشارات، (۳): اسماء موصولات، (۴): اسماء افعال، (۵): اسماء اصوات، (۶): اسماء ظروف، (۷): اسماء اسماء کنایات، (۸): مرکب بنائي .

تمرين ١

ګرانو شاګردانو! راتلونکو پوښتونو ته صحيح جوابونه ووایاست!

(١): اسم داعراب اوبناپه اعتبارڅوقسمونه لري؟

(٢): اسم معرب وکوم اسم ته ویل کیږي؟

(٣): اسم مبني وکوم اسم ته ویل کیږي؟

(۴): مبني اولاًڅوقسمونه لري؟

(۵): مبني الاصل څودي ؟

(۶): مبني الاصل کوم کوم دي؟

(٧): غیرمبني الاصل څودي اوکوم کوم دي ؟

(٨): اسم غیرمتمکن څوقسمونه لري ؟ بیا ن یې کړئ.

(٩): فعل مضارع چي نونات دجمع مؤنث اونونات دتأکید پکښي نه وي معرب ده اوکه مبني ؟

(١٠): نونات دجمع مؤنث اونونا ت دتأکیدکوم کوم دي؟

تمرين ٢

په لاندي مثالونو کښي مبني، دمبني الاصل قسم او دغیرمبني الاصل قسمونه وښوئ!

(١): ضَرَبَ اللهُ، (٢): يَنْصُرْنَ، (٣): بِزَيْدٍ، (۴): عَلَى حِكْمَةٍ، (۵): أُنْصُرْنِيْ،

(۶): هذَانِ، (٧): ذَالِكَ الْكِتَابُ، (٨): لَيَعْلَمَنَّ، (٩): لاَ تَقْتُلَنَّ، (١٠): اَلَّذِيْنَ،

(١١): هؤُلاَءِ، (١٢): ثَلٰثَةَ عَشَرَ، (١٣): نَصَّرَ، (١۴): غُلِبُوْا، (١۵): تُنْصِرْنَ

(١۶): فِي الْمَسْجِدِ، (١٧): وَاعْلَمُوْا، (١٨): أُنْصُرْنَ، (١٩): وَجَاهِدُوْا، (٢٠): اِضْرِبَنْ.

مضمرات [1]

ضمير : هغه اسم ته ویل کیږي چي د غائب یا مخاطب او یا متکلم لپاره ایښودل سوی وي ، لکه :اَنَا(زه) ، هُوَ(هغه) ، اَنْتَ(ته) او ضمیرونه پر پنځه ډوله دي :مرفوع متصل ، مرفوع منفصل ، منصوب متصل ، منصوب منفصل ، مجرور متصل .

ضمیر مرفوع متصل

ضمیر مرفوع متصل : هغه ضمیر ته ویل کیږي چي د خپل عامل فعل سره نښتی وي اوپه ترکیب کي که فعل معلوم وي فاعل جوړیږي اوکه فعل مجهول وي بیا نائب فاعل جوړیږي.

ضمیر مرفوع متصل (ځوارلس) دي :

۱. نَصَرَ د(هو) ضمیر پکښي مستتر (پټ) دی
۲. نَصَرَا (الف تثنیه) پکښي ضمیر دی .
۳. نَصَرُوْا (واو جمع) پکښي ضمیر دی .
۴. نَصَرَتْ (هي) ضمیر پکښي مستتر (پټ) دی.
۵. نَصَرَتَا (الف تثنیه) پکښي ضمیر دی.
۶. نَصَرْنَ (نون جمع) مؤنث) پکښي ضمیر دی.
۷. نَصَرْتَ (ت) پکښي ضمیر دی .
۸. نَصَرْتُمَا (تما) پکښي ضمیر دی .
۹. نَصَرْتُمْ (تم) پکښي ضمیر دی .
۱۰. نَصَرْتِ (تا) پکښي ضمیر دی.

---

[1] مضمرات د مضمر جمع ده ضمائر د ضمیر جمع ده مضمر او ضمیر یوه شي ته ویل کیږي .

۱۱.نَصَرْتُمَا (تما) پکښې ضمیر دی.
۱۲.نَصَرْتُنَّ (تن) پکښې ضمیر دی.
۱۳.نَصَرْتُ (ت) پکښې ضمیر دی.
۱۴. نَصَرْنَا (نا) پکښې ضمیر دی.

ضمیر مرفوع منفصل

ضمیر مرفوع منفصل : هغه ضمیر ته ویل کیږي چې دخپل عامل فعل څخه جلاوي. (۱)

ضمیر مرفوع منفصل څوارلس دي :

۱. هُوَ د واحد مذکر غائب لپاره .
۲. هُمَا د تثنیه مذکر غائب لپاره.
۳. هُمْ د جمع مذکر غائب لپاره.
۴. هِيَ د واحد مؤنث غائب لپاره.
۵. هُمَا د تثنیه مؤنث غائب لپاره.
۶. هُنَّ د جمع مؤنث غائب لپاره.
۷. اَنْتَ د واحد مذکر مخاطب لپاره.
۸. اَنْتُمَا د تثنیه مؤنث مخاطب لپاره.
۹. اَنْتُمْ د جمع مؤنث مخاطب لپاره.
۱۰.اَنْتِ د واحد مؤنث مخاطب لپاره.

---

(۱) ضمیر مرفوع منفصل په ترکیب کښې کله مبتداء وي لکه : (أنَا قَائِمٌ) اوکله خبروي لکه : (المنطلق أنَا) اوکله تاکیدوي دفاعل دپاره لکه : (ضَرَبْتُ أنَا).

۱۱.اَنْتُمَا د تثنیه مؤنث مخاطب لپاره .

۱۲.اَنْتُنَّ د جمع مؤنث مخاطب لپاره.

۱۳.اَنَا د واحد متکلم لپاره.

۱۴.نَحْنُ د جمع متکلم لپاره.

ضمیر منصوب متصل

ضمیر منصوب متصل : هغه ضمیر ته ویل کیږي چي په ترکیب کي د خپل نصب ورکونکي عامل سره نښتی وي .([1])

ضمیر منصوب متصل څوارلس دي :

۱. نَصَرَهُ (ه) د واحد مذکر غائب لپاره .

۲. نَصَرَهُمَا (هما) د تثنیه مذکر غائب لپاره.

۳. نَصَرَهُمْ (هم)د جمع مذکر غائب لپاره.

۴. نَصَرَهَا (ها)د واحد مؤنث غائب لپاره.

۵. نَصَرَهُمَا (هما)د تثنیه مؤنث غائب لپاره.

۶. نَصَرَهُنَّ (هن)د جمع مؤنث غائب لپاره.

۷. نَصَرَکَ (ک)واحد مذکر مخاطب لپاره.

۸. نَصَرَکُمَا (کما) د تثنیه مذکرمخاطب لپاره.

۹. نَصَرَکُمْ (کم)د جمع مذکر مخاطب لپاره.

۱۰.نَصَرَکِ (ک)د واحد مؤنث مخاطب لپاره.

---

[1] ضمیرمنصوب متصل که دفعل سره نښتی وي نومفعول وي، لکه: (نصرني زیدٌ) اوکه دحرف مشبه بالفعل سره نښتی راسي بیادهغه اسم بلل کیږي، (إنّنِی أنا اللهُ .

۱۱. نَصَرَكُمَا (کما) د تثنیه مؤنث مخاطب لپاره.
۱۲. نَصَرَكُنَّ (کن) دجمع مؤنث مخاطب لپاره.
۱۳. نَصَرَنِيْ (نی) د واحد متکلم لپاره.
۱۴. نَصَرَنَا (نا) د جمع متکلم لپاره.

ضمیر منصوب منفصل

ضمیر منصوب منفصل : هغه ضمیر ته ویل کیږي چي دخپل نصب ورکونکي عامل څخه جلاوي او په ترکیب کي همېشه مفعول به واقع کیږي.[1]

ضمیر منصوب منفصل څوارلس دي :

۱. اِيَّاهُ د واحد مذکر غائب لپاره.
۲. اِيَّاهُمَا د تثنیه مذکر غائب لپاره.
۳. اِيَّاهُمْ د جمع مذکر غائب لپاره.
۴. اِيَّاهَا د د واحد مؤنث غائب لپاره.
۵. اِيَّاهُمَا د تثنیه مؤنث غائب لپاره.
۶. اِيَّاهُنَّ د جمع مؤنث غائب لپاره.
۷. اِيَّاكَ د واحد مذکر مخاطب لپاره.
۸. اِيَّاكُمَا د تثنیه مذکر مخاطب لپاره.
۹. اِيَّاكُمْ د جمع مذکر مخاطب لپاره.

---

[1] ضمیر منصوب منفصل همیشه په ترکیب کښي مفعول وي او کله اوکله دخپل عامل فعل څخه دحصراو اختصاص دفائده کولو په غرض مخته کیږي ، لکه : (اِيَّاكَ نعبد).

۱۰. اِيَّاكِ د واحد مؤنث مخاطب لپاره.
۱۱. اِيَّاكُمَا د تثنيه مؤنث مخاطب لپاره.
۱۲. اِيَّاكُنَّ د جمع مؤنث مخاطب لپاره.
۱۳. اِيَّاىَ د واحد متكلم لپاره.
۱۴. اِيَّانَا د جمع متكلم لپاره.

ضمير مجرور متصل

ضمير مجرور متصل : هغه ضمير ته ويل كيږي چي د حرف جر سره نښتی وي او يا داسم مضاف سره .[1]

مجرور بحرف الجر څوارلس دانې دي:

۱. لَهُ (ه) د واحد مذكر غائب لپاره.
۲. لَهُمَا (هما)د تثنيه مذكر غائب لپاره.
۳. لَهُمْ (هم)د جمع مذكر غائب لپاره.
۴. لَهَا (ها)د واحد مؤنث غائب لپاره.
۵. هُمَا (هما)د تثنيه مؤنث غائب لپاره.
۶. لَهُنَّ (هن)د جمع مؤنث غائب لپاره.
۷. لَكَ (ک)د واحد مذكر مخاطب لپاره.
۸. لَكُمَا (كما)د تثنيه مذكر مخاطب لپاره.

---

[1] ضمير مجرور متصل چي كله دحرف جرسره متصل وي نومجروربحرف جر ورته ويل كيږي اوكله چي په اسم مضاف مجرورسي بياورته مضاف اليه ويل كيږي .

۹. لَكُمْ (کم)د جمع مؤنث مخاطب لپاره.
۱۰.لَكِ (ک)د واحد مؤنث مخاطب لپاره.
۱۱.لَكُمَا (کما)د تثنیه مؤنث مخاطب لپاره.
۱۲.لَكُنَّ (کن)د جمع مؤنث مخاطب لپاره.
۱۳.لِيْ (ی)د واحد متکلم لپاره.
۱۴.لَنَا (نا)د جمع متکلم لپاره

مجرور بالمضاف هم څوارلس دي.

۱. كِتَابُهُ (ه) د واحد مذکر غائب لپاره.
۲. كِتَابُهُمَا (هما)د تثنیه مذکر غائب لپاره.
۳. كِتَابُهُمْ (هم) د جمع مذکر غائب لپاره.
۴. كِتَابُهَا (ها) د واحد مؤنث غائب لپاره.
۵. كِتَابُهُمَا (هما) د تثنیه مؤنث غائب لپاره.
۶. كِتَابُهُنَّ (هن) د جمع مؤنث غائب لپاره.
۷. كِتَابُكَ (ک) د واحد مؤنث مخاطب لپاره.
۸. كِتَابُكُمَا (کما) د تثنیه مذکر مخاطب لپاره.
۹. كِتَابُكُمْ (کم) د جمع مؤنث مخاطب لپاره.
۱۰.كِتَابُكِ (ک) د واحد مؤنث مخاطب لپاره.
۱۱.كِتَابُكُمَا (کما) د تثنیه مؤنث مخاطب لپاره.
۱۲.كِتَابُكُنَّ (کن) د جمع مؤنث مخاطب لپاره.
۱۳.كِتَابِيْ (ی) د واحد متکلم لپاره.
۱۴.كِتَابُنَا (نا) د جمع متکلم لپاره.

اسماء اشارات

اسم اشاره: هغه اسم ته ویل کیږي چي د یوه شی و طرف ته د اشاره کولو لپاره وي ، لکه : هٰذَاقَلَمٌ (دغه قلم دی).

اسم اشاره پر دوه ډوله ده :

۱. **قریب لپاره** : (یعني د یو نژدې شي د اشارې لپاره) ،لکه: هٰذَا (دغه) .

۲. **د بعید لپاره**: (یعني د یو لیري شي د اشارې لپاره) ،لکه :ذَالِکَ (هغه) .

اسماء اشارات د قریب یعني نژدې لپاره:

هٰذَا	دغه سړی .
هٰذَانِ/هٰذَيْنِ	دغه دوه نفره .
هٰذِهِ	دغه ښځه .
هٰاتَانِ/هٰاتَيْنِ	دغه دوې ښځي .
هٰؤُلَاءِ	دغه ډیر نارینه یا ډیري ښځي .

اسماء اشارات د بعید (لیري) لپاره:

ذَالِکَ	هغه یو سړی.
ذَانِکَ/ذَيْنِکَ	هغه دوه سړي .
تِلْکَ	هغه یوه ښځه .
تَانِکَ/تَيْنِکَ	هغه دوې ښځي.
اُوْلٰٓئِکَ	هغه ډیر نارینه او یا ډیري ښځي .

فائده:

☆ کوم څوک چي د يوشي و طرفته اشاره کوي دغه کس ته (مشير) ويل کيږي ، هغه شی چي اشاره ورته کيږي هغه ته (مشار اليه) ويل کيږي او دغه عمل ته اشاره ويل کيږي.

☆ د (اسم اشاره) او (مشار اليه) اعراب يو ډول وي البته پر اسم اشاره اعراب نه ښکاريږي ځکه چي مبني ده .

اسماء موصولات

اسم موصول هغه اسم ته ويل کيږي چي بېله صلې او عائده څخه د جملې جزء نسي جوړيدلای ، لکه : جَاءَ الَّذِیْ نَصَرَکَ (هغه کس راغلی کوم چاچي ستاسره مرسته کړې وه) .

د پورته مثال ترکيب (جاء) فعل دی ، (اَلَّذِیْ) اسم موصول دی ، او (نَصَرَکَ)[1] صله ده موصول سره د صلې د (جاء) لپاره فاعل کيږي او جمله فعليه خبر يه جوړيږي .

اسماء موصوله

اَلَّذِیْ	(هغه سړی) د واحد مذکر لپاره .
اَلَّذَانِ، اَلَّذَیْنَ	(هغه دوه سړي) د تثنيه مذکر لپاره.
اَلَّذِیْنَ	(هغه ډېر سړي) د جمع مذکر لپاره.
اَلَّتِیْ	(هغه يوه ښځه) د واحد مؤنث لپاره.
اَللَّتَانِ، اَللَّتَیْنِ	(هغه دوې ښځي) د تثنيه مؤنث لپاره.

[1] د نصرک ترکيب : نصر (صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم) فعل ، د واحد مذکر ضمير په کښي مستتر دي هغه فاعل ، (ک) ضمير منصوب متصل منصوب محلاً مفعول دی.

اَللَّاتِيْ، اَللَّوَاتِيْ (هغه ډيري ښځي) د جمع مؤنث لپاره .

فائده :

☆ (ما) هغه شی او (من) هغه څوک (ای ، اية) کوم شی .

☆ موصول معنی ده یو ځای سوی،او د صله معنی ده تتمة، یعني پوره کوونکې نو مطلب یې دا دی چې اسم موصول د تتمې سره یو ځای د جملې جزء یعني فاعل یا مفعول یا بل شی جوړیږي.

اسماء افعال

اسم فعل : هغه اسم ته ویل کیږي چې د ذات په اعتبار سره اسم وي لکن معنی یې د فعل کیږي ، (اسماء افعال) دوه ډوله دي : اول په معنی د فعل ماضي سره او دوهم په معنی د امر حاضر سره .

اسماء افعال د فعل ماضی په معنی سره :

اسم فعل	معنی
هَيْهَاتَ	بَعُدَ (لیری سوه) .
شَتَّانَ	اِفْتَرَقَ (جلا سوه).
سَرْعَانَ	سَرُعَ (چابک سوه) .

اسماء افعال د فعل امر په معنی سره :

اسم فعل	معنی
رُوَيْدَ	اَمْهِلْ (وخت ورکړه) .
بَلْهَ	اُتْرُكْ (پریږده) .
حَيَّهَلْ	اَقْبِلْ (مخ کړه).
هَلُمَّ	اِيْتَ (راسه) .

اسماء اصوات

اسم صوت : هغه آواز ته ویل کیږي چي د انسان د خولې څخه د یوه خاص غرض لپاره راوځی . لکه : (آه آه اُفْ اُفْ) د درد پر وخت او هغه آوازونو ته ویل کیږي چي د مرغانو او حیواناتو ته د انسان لخوا استعمالیږي او یا هم د دوي د اوازونو څخه نقل کیږي . لکه :(نَخْ نَخْ[1]) او یا (غَاقَ غَاقَ) .

اسماء ظروف

اسم ظرف : هغه اسم ته ویل کیږي چي ځای او یا وخت ځیني معلومیږي او اسم ظرف پر دوه ډوله دی : ظرف زمان ، ظرف مکان

ظرف مکان : ځای ته ویل کیږي . لکه : مَنْصَرٌ (د مرستي ځای) .

ظرف زمان : وخت ته ویل کیږي . لکه : اَمْسَ (پرون ورځ).

د ظرف مکان څو مثالونه:

حَيْثُ	چیري.
قُدَّامٌ	مخته .
تَحْتَ	لاندي.
فَوْقَ	لوړ.
خَلْفَ	شاته.
عِنْدَهُ	دده سره.
اَيْنَ	چیري.
اَنّى	چیري.

[1] (نخ نخ)د اوښانو د کښېنولو لپاره استعمالیږی او (غاق غاق) د کارګانو خپل اواز دی

د ظرف زمان څو مثالونه :

اِذْ	هغه وخت / کله .
اِذٰا	هغه وخت / کله .
مَتٰى	هغه وخت / کله .
اَيّٰانَ	هغه وخت / کله .
اَمْسَ	پرون ورځ.
مُذْ	د وخت څخه.
مُنْذَ	د وخت څخه .
قَطُّ	هيڅ وخت.
قَبْلُ	مخته.
بَعْدُ	وروسته.

اسماء کنايات

اسم کنايه : هغه اسم ته ويل کيږي چي د يو عدد يا د يوې خبري په ناڅرګنده ډول ښوونه کوي ، او د کنايه في العدد لپاره دوه لفظه استعماليږي (١) كَمْ (٢) كَذٰا.

لکه : د يو چا ددې پوښتني په جواب کي چي كَمْ كِتٰابًا عِنْدَكَ ؟ (يعني ستا سره څومره کتابونه دي؟) وويل سي عِنْدِيْ كَذٰا كِتٰابًا (زما سره دومره کتابونه دي) د کنايه فی الحديث لپاره هم دوه لفظه استعماليږي (١) كَيْتَ (٢) ذَيْتَ.

لکه : قُلْتُ لَهُ كَيْتَ وَكَيْتَ (يعني ما وده ته داسي و داسي وويل).

مرکب بنائي

مرکب بنائي : هغه ته ویل کیږي چي د دوو اسمونو څخه جوړ وي او دوهم اسم حرف ته متضمن وي ، لکه : اَحَدَعَشَرَ چي په اصل کي داسی دی اَحَدَ وَّعَشَرَ .

- د عربي ژبي عددونه د اَحَدَعَشَرَ (یوولسو) څخه پورته بیا تر تِسْعَةَ عَشَرَ (نوولسو) پوري مرکب بنائي دي ما سوی د اِثْنَا عَشَرَ (دوولسو) څخه .

تمرين ١

گرانو شاگردانو! لاندي سوالونو ته صحيح جوابونه وو ايا ست!

(١): داسم غير متمكن اته قسمونه كوم كوم دي؟

(٢): دضمائر تعريف وكړئ.

(٣): دمضمرات اوضمائر ترمنځ فرق روښانه كړئ.

(٤): مضمرات څو قسمونه لري ؟

(٥): ضمير مرفوع متصل كوم يوه ته ويل كيږي ؟

(٦): ضمير مرفوع منفصل كوم يوه ته ويل كيږي ؟

(٧): ضمير منصوب متصل څه شي ته ويل كيږي؟ تعريف يې كړئ.

(٨): دضمير منصوب منفصل تعريف روښانه كړئ .

(٩): ضمير مجرور متصل تعريف كړئ.

(١٠): د مجرور بحرف جر اومجرور باالمضاف ترمابين فرق روښانه كړئ؟

(١١): داسماء اشارات تعريف وكړئ.

(١٢): اسم اشاره دقريب اوبعيد څه فرق لري ؟

(١٣): اسم موصول تعريف كړئ.

(١٤): اسم كنايه تعريف كړئ.

(١٥): اسم ظرف وچاته وايي؟ تعريف يې كړئ.

تمرين ٢

درنو شاګردانو! په لاندي مثالونو کښي د اسم غير متمکن قسم معلوم کړئ!

(١): هُمَا حَاضِرَانِ، (٢): ذَالِكَ الْكِتَابُ، (٣): اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا، (٤): هؤُلَاءِ مُجْتَهِدُوْنَ، (٥): اِشْتَرَيْتُ بِخَمْسَةَ عَشَرَ، (٦): هذَا صَدِيْقُكَ، (٧): صَدِيْقِيْ غَائِبٌ، (٨): أَخَذْتُ بِمَالٍ، (٩): إلى للهِ، (١٠): أَنْتَ الأَحَقُّ، (١١): نَحْنُ الْغَالِبُوْنَ، (١٢): هُمُ الْفَائِزُوْنَ، (١٣): إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ، (١٤): هُمُ الْمُتَّقُوْنَ، (١٥): اَلَّذَانِ يَكْتُبَانِ، (١٦): بِعْتَ بِكَيْتَ وَكَيْتَ، (١٧): أَيَّانَ مُرْسَاهَا، (١٨): عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ، (١٩): فَقَالَ أُفٍ أُفٍ، (٢٠): هَلُمَّ إِلَى الصَّفِّ، (٢١): سَمِعْتَ غَاقَ غَاقَ، (٢٢): هَذِهِ النَّارُ الَّتِي، (٢٣): فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ، (٢٤): نَصَرَتْهَا، (٢٥): لَنَا مَوْلَى وَلَا مَوْلَى لَكُمْ.

(فصل)

د اسم معرب تقسيم

اسم معرب پر دوه ډوله دی : منصرف ، غير منصرف.

غيرمنصرف: هغه اسم ته ويل کيږي چي په هغه کي د غير انصرافی د نهو سببونو څخه دوه سببه موجود وي او يا يو داسي سبب پکښي موجود وي چي د دوو سببونو پر ځای ولاړ وي .

د غير منصرف حکم : پر غير منصرف باندي کسره او تنوين نسي راتلای او د کسرې پر ځای فتحه پر راځي .

منصرف : هغه اسم ته وايي چي په هغه کي د غير منصرف جوړېدو سبب نه وي موجود .

د منصرف حکم : چي د تنوين سره سره درې سره حرکات ورباندي راتلای سي .

د غير منصرف نهه سببونه

غير منصرف نهه سببونه لري :

۱. عدل
۲. وصف.
۳. تانيث
۴. معرفه .
۵. عجمه .
۶. جمع
۷. ترکيب.
۸. وزن فعل.
۹. الف و نون زائدتان.

(۱) **عدل** : د هغه حالت نوم دی چي یو اسم د خپل اصلي حالت څخه بېله کومي قاعدې و بل حالت ته واوړي ، لکه : د (عٰامِرُ) **څخه** (عُمَرُ) جوړ سي نو په (عمر) کي عدل دی .

(۲) **وصف** : هغه اسم ته وايي چي د هغه اصل جوړښت د صفتي معنی لپاره سوی وي لکن حالا د اسم په توګه استعمال وي ، لکه : اَحْمَرُ (سور)اَسْوَدُ (تور).

(۳) **تانیث** : د یو اسم مؤنث کېدل ، لکه : طَلْحَةُ، زَيْنَبُ، حُبْلٰى، صَحْرٰاء .

(۴) **معرفه** : هغه اسم دی چي د یو شي لپاره نوم وي ، لکه : زَيْنَبُ .

(۵) **عجمه** : هغه اسم دی چي د عربي نه وي ، لکه: اِبْرٰاهِيْمُ، نُوْحُ.

(۶) **جمع** : چي د جمع منتهی[۱] الجموع صیغه وي ، او د هغه دوه وزنه دی (۱) مَفٰاعِيْلُ لکه مَصٰابِيْحُ (۲) مَفٰاعِلُ لکه مَسٰاجِدُ .

(۷) **ترکیب** : هغه دی چي دوې کلمې بیله اضافته او اسناده سره یو سی ، لکه : بَعْلَبَكَّ چي د یو ښار نوم دی .

(۸) **وزن فعل** : هغه اسم ته ویل کیږي چي یو اسم د فعل پر وزن راسي، لکه :اَحْمَدُ چي د فعل مضارع د متکلم پر وزن دی .

(۹) **الف و نون زائدتان** : هغه اسم دی چي په آخر کي یې زائد الف او زائد نون راسي،لکه : عُثْمٰانُ، نُعْمٰانُ .

---

[۱] د جمع منتهی الجموع پېژندنه د الصرف للناشئین څخه کیږي.

تمرين ١

درنو شاګردانو! لاندي سوالونو ته صحيح جوابونه ووایاست!

(١): دمنصرف اوغیرمنصرف تعریفونه وکړئ.

(٢): دغیرمنصرف کېدو لپاره څو سببه ضروري دي؟

(٣): دغیر منصرف اته (٨) سببونه کوم کوم دي ؟

(٤): دعدل تعریف څه ډول دی ؟

(٥): دوزن فعل تعریف څه ډول دی ؟

(٦): دمعرفه تعریف وکړه .

(٧): عجمه څه شي ته وايي.

(٨): دجمع منتهی الجموع تعریف وکړه .

(٩): دترکیب تعریف وکړه.

(١٠): دوصف اوتأنیث تعریفونه وکړه.

تمرين ٢

ګرانو شاګردانو! په لاندي مثالونو کښي منصرف او غیرمنصرف معلوم کړئ!

(١): زُفَرُ، (٢): زَيْنَبُ، (٣): جَاءَ عُمَرُ، (٤): ذَهَبَ خَالِدٌ، (٥): كِتَابُ إِبْرَاهِيْمَ، (٦): أَوْحَيْنَا إِلَى إِسماعِيْلَ ، (٧): دَخَلَ دَاوُدُ، (٨): نَزَلَ عَلَى سُلَيْمَانَ، (٩): مِنْ مَّحَارِيْبَ، (١٠): لَلَّذِى بِبَكَّةَ ، (١١): يَابَنِى إِسْرَائِيلَ ، (١٢): جَاءَ إِخْوَةُ يُوسُفَ ، (١٣): وَتَمَاثِيْلَ، (١٤): يَازَكَرِيَّا، (١٥): جَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ.

فائده :

١. **عامل** هغه دی چي د هغه په ویلو سره د کلمې آخر تبدیلیږي.

٢. **اعراب** : هغه تغیر ته ویل کیږي چي د معرب په آخر کي راسي.

٣. **د اعراب محل** : د معرب آخري حرف دی .لکه : جٰاءَ زَیْدٌ، رَاَیْتُ زَیْدًا ، مَرَرْتُ بِزَیْدٍ.

د پورته مثالونو وضاحت : په مذکوره مثالونو کي زید معرب دی ، جاء ، رایت ، او (با) عاملان دي او پر زید باندي په اول مثا ل کي رفع ، په دوهم مثال کي نصب او په دریم مثال کي جر اعراب دي او د زید دال د اعراب محل دی .

د معرب او مبني حکم :مبني هغه دي چي تل پر یوه حال وي او معرب هغه دی چي یوه او بل حال ته اوړي .

د معرب ډولونه

معرب پر دوه ډوله دی :

١. هغه اسم متمکن دی چي په ترکیب کي واقع سي . لکه : اَخُوْکَ صٰالِحٌ (ستا ورور صالح دی) ، په مذکوره مثال کي (اَخُوْکَ) او (صٰالِحٌ) اسم متمکن معرب دي .

٢. هغه مضارع ده چي (نون تاکید) او (نون جمع مؤنث) نه وي په کښي راغلي ، لکه : اَحْمَدُیَدْرُسُ(احمد درس وایي) ، په مذکوره مثال کي (یَدْرُسُ) مضارع معرب ده.

فائده:

د اسم معرب اعراب پر درې ډوله دی : ، رفعه ، نصب او جر ، پر کوم اسم چي رفعه وی هغه ته مرفوع ویل کیږي ، پر کوم اسم چي نصب وي هغه ته منصوب ویل کیږي او پر کوم اسم چي جر وي هغه ته مجرور ویل کیږي ، مثالونه : جَاءَ زَيْدٌ، رَاَيْتُ زَيْدًا، مَرَرْتُ بِزَيْدٍ .

فائده :

د فعل مضارع اعراب هم پر درې ډوله دی : رفع ، نصب ، جزم کله چي رفعه باندي راسي مرفوع ورته ویل کیږي ، کله چي نصب باندي راسي منصوب ورته ویل کیږي او کله چي جزم باندي راسي مجزوم ورته ویل کیږي .

(فصل)

مرفوعات

د هغه اسماوو بیان چي اعراب یي رفعه وي کوم اسماء چي اعراب یې رفعه وي اته دي :

۱. فاعل .
۲. نائب فاعل .
۳. مبتداء.
۴. خبر.
۵. د حروف مشبه بالفعل خبر.
۶. د (افعال ناقصه) اسم.

۷. د (ما ولامشبهتان بليس) اسم.

۸. د (لانفي جنس) خبر.

(۱) فاعل

فاعل : هغه اسم دی چي و ده ته د فعل نسبت سوی وي او فعل د دغه اسم به ذریعه پیدا سوی وي . لکه : قَامَ زَيْدٌ (زید ودریدی) .

مهمي قاعدې :

- فاعل کله اسم ظاهر وي ، کله اسم ضمیر بارز (ښکاره) او کله اسم ضمیر مستتر (پټ) وي ، مثالونه یې په لاندي ډول دي:
  چي فاعل اسم ظاهر وي ، لکه : (قَامَ زَيْدٌ ، يَنْصُرُ اَحْمَدُ).
  چي فاعل اسم ضمیر بارز وي ، لکه : (نَصَرَتْ، يَنْصُرُوْنَ) چي فاعل اسم ضمیر مستتر وي ، لکه : (نصره) دلته فاعل (هو) دئ په نصره کي مستتر دی او (ه) یې مفعول دی .
- کله چي فاعل اسم ظاهر وي؛ نوفعل همیشه واحد وي البته فاعل که واحد وو واحد راځي اوکه تثنیه وو تثنیه راځي او که جمع وي جمع راځي، لکه : نَصَرَ الرَّجُلُ، نَصَرَ الرَّجُلَانِ، نَصَرَ الرِّجَالُ .
- او که فاعل ضمیر وو نو بیا د خپل مرجع (یعني ضمیر چي ورته راجع کیږي) د هغه سره برابر راوړل کیږي، لکه : اَلرَّجُلُ نَصَرَ، اَلرَّجُلَانِ نَصَرَا، اَلرِّجَالُ نَصَرُوْا

(۲) نائب فاعل

نائب فاعل : هغه اسم ته ویل کیږي چي په معنی کي مفعول وي ، د فعل مجهول نسبت به ورته سوی وي او د فاعل پر ځای دغه اسم ولاړ وي ، لکه : نُصِرَمُحَمَّدٌ (د محمد مرسته وسوه).

فائده :

- (نائب فاعل) ته (مفعول ما لم یسم فاعله) هم ویل کیږي.
- د (نائب فاعل) واحد ، تثنیه او جمع همېشه د فاعل په ډول وي ، لکه : نُصِرَالرَّجُلُ، نُصِرَالرَّجُلَانِ، نُصِرَالرِّجَالُ .

(۳) مبتداء

مبتداء : هغه اسم ته ویل کیږي چي د جمله اسمیه اول جزء وي د کوم څخه چي خبره شروع کیږي ، لکه : سَعِيْدٌذَاهِبٌ (سعید تلونکي دی) په دغه مثال کي (سعید) مبتداء دی او مبتداء ته مسند الیه هم ویل کیږي .

(۴) خبر

خبر : د جمله اسمیه دوهم جزء ته ویل کیږي ، چي هغه مبتداء ته حکم بلل کیږي ، په ذکر سوي مثال کي (ذَاهِبٌ) د سعید لپاره خبر دی .

قاعدې :

- د مبتداء او خبر عامل معنوي وي دواړو ته یې رفعه ورکړې ده .

- مبتداء اکثر معرفه او خبر اکثر نکره وي لکه په ذکر سوي مثال کي .

(۵) دحروف مشبه بالفعل خبر

فائده

- حروف مشبه بالفعل شپږ دي : (اِنَّ، اَنَّ، کَاَنَ، لٰکِنَّ، لَیْتَ، لَعَلَّ)
- دغه حروف ځکه مشبه بالفعل بلل کیږي چي په وزن او معنی کي د فعل سره مشابهت لري ، حروف مشبه بالفعل پر جمله اسمیه داخلیږي ، مبتداء د ځان لپاره اسم ګرځوي او نصب ورکوي او خبر د ځان لپاره خبر ګرځوي او رفعه ورکوي.

مثالونه : اِنَّ اللّٰهَ عَلِیْمٌ، عَلِمْتُ اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ، کَاَنَّ زَیْدًا اَسَدٌ، لٰکِنَّ الْاُسْتَاذَ شَفِیْقٌ، لَیْتَ الشَّبَابَ رَاجِعٌ، لَعَلَّ الْمُسَافِرَ قَادِمٌ .

(۶) د ما ولا المشبهتان بلیس اسم

فائده :

ما و لا : د لیس سره په معنی او عمل کي مشابهت لري ، (ما او لا) لیس ته ورته دي اسم ته رفعه او خبر ته نصب ورکوي ،لکه : مَا زَیْدٌ قَائِمًا (یعني زید ولاړ نه دی) ، لَا رَجُلَ اَفْضَلُ مِنْکَ (تر تا ښه سړی نسته) .

(۷) د لاء نفي جنس خبر

لا ء نفي جنس: هغه (لا) دی چي پر نکره داخلیږی او د ټول جنس نفي کوي ، عمل یې دادی چي اسم ته کله کله نصب ورکوي ، او کله کله یې مبني پر فتحه کوي او خبر ته رفعه ورکوي ، لکه : لَا رَجُلَ قَائِمٌ (هیڅ یو سړی ولاړ نسته) .

(٨) د افعال ناقصه وو اسم

افعال ناقصه : پر جمله اسميه داخليږي ، مبتداء د ځان لپاره اسم او خبر د ځان لپاره خبر جوړوي ، اسم ته رفعه ورکوي او خبر ته نصب ورکوي ،افعال ناقصه دیارلس دي :

كَانَ، صَارَ، اَصْبَحَ، اَمْسٰى، اَضْحٰى، ظَلَّ، بَاتَ، مَافَتِئَ، مَادَامَ، مَاانْفَكَّ، مَابَرِحَ، مَازَالَ، لَيْسَ.

مثالونه : كَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا (**الله ښه پوهيدونکي دی**)، صَارَ الدَّقِيْقُ خُبْزًا (**اوړه ډوډی سوه**) ، اَصْبَحَ زَيْدٌ غَنِيًّا (**زيد شتمن سو**) ، لَيْسَ زَيْدٌ قَائِمًا (**زيد ولاړ نه دی**) .

قاعده :

کوم عمل چي دغه افعال کوي هغه عمل ټول هغه اسمونه او فعلونه کوي چي د دوی څخه جوړيږي ، د بېلګي په توګه کوم عمل چي کان کوی (كُنْ) چي د امر صيغه ده ، او (كائن) چي د اسم فاعل صيغه ده هم هغه عمل کوي ، لکه : كُنْ عَالِمًا ! (**ته عالم جوړ سه !**) .

(فصل)

منصوبات

منصوبات : هغه اسمونه دي چي د هغو اعراب نصب وي منصوبات ټول دوولس دي او هغه په لاندي ډول دي :

١. مفعول به .
٢. مفعول مطلق .
٣. مفعول له .
٤. مفعول معه .
٥. مفعول فيه .
٦. حال.
٧. تمیز .
٨. د حروف مشبه بالفعل اسم .
٩. د(ما و لا) مشابه بلیس خبر .
١٠.د لاء نفی جنس اسم .
١١.د افعال ناقصه خبر .
١٢.مستثنی.

(١): مفعول به

مفعول به : هغه اسم ته ویل کیږي چي د کار کوونکي کار ورباندي سوی وي ، لکه : نَصَرَاَحْمَدُ فَقِيْرًا(احمد د فقیر مرسته وکړه) ، په دغه مثال کي د (احمد) کار چي مرسته ده پر (فقیر) باندي چي مفعول به دی واقع سوېده .

(۲): مفعول مطلق

مفعول مطلق :هغه مصدر دی چي تر فعل وروسته ذکر سي او د فعل په معنی وي ، لکه : ضَرَبْتُ ضَرْبًا(ما ښه وهل وکړل) ، اوس (ضَرْبًا) په مذکور مثال کي مفعول مطلق دی .

قاعده:

مفعول مطلق: د (۳)موخو لپاره ذکر کیږي :

۱. د مخکنی فعل د تاکید یعني ټینکښت لپاره ، لکه : ضَرَبْتُ ضَرْبًا(ما ښه وهل وکړل) .

۲. د کار د نوعیت د بیان لپاره ، لکه : جَلَسْتُ جِلْسَةَ الْخَطِيْبِ (د خطیب دناستي په ډول کښینستم) .

۳. د کار د تعداد یعني شمار د بیانولو لپاره مثال : جَلَسْتُ جَلْسَةً (زه یوځل کښېنستم) .

(۳): مفعول له

مفعول له : هغه اسم ته وایي چي دده لکبله کار رامنځ ته سوی وي ، لکه : ضَرَبْتُهُ تَأْدِيبًا(ما دی د ادب ورکولو لپاره وواهه) ، اوس دلته (تادیبا) مفعول له دی ځکه چي دده وهل د ادب لپاره سوي دي .

(۴): مفعول معه

مفعول معه : هغه اسم دی چي تر هغه (واو) وروسته ذکر سي چي په معنی د (مع) وي ، لکه : جَاءَ اَحْمَدُ وَالْقَلَمَ (یعني احمد د قلم سره راغلی) .

(۵): مفعول فيه

مفعول فيه : هغه اسم دی چي داسي وخت یا داسي ځای په وښوي چي کار پکښي سوی وي ، لکه : صُمْتُ شَهْرًا(یعني یوه میاشت می روژه ونیول) ، او یا جَلَسْتُ خَلْفَكَ (یعني زه ستا تر شا کښېنستم).

او د مفعول فیه بل نوم ظرف هم دی.

د ظرف ډولونه

ظرف پر دوه ډوله دی : ظرف زمان ، ظرف مکان .

- **ظرف زمان** : وخت ته ویل کیږي ، لکه : دهر، حین، یوم، لیل، شهر، سنة
- **ظرف مکان** : ځای ته ویل کیږي ، لکه : خَلْفَ، اَمَامَ، دَارٌ، مَسْجِدٌ،

فائده :

یو شاعر پنځه مفعوله په شعر کي داسی جمعه کړي دي ؛

(۱)حَمِدْتُّ حَمْدًا حَامِدًا وحَمِـــــــ

(۶): حال

حال : هغه اسم ته ویل کیږي چي د (فاعل) یا (مفعول به) او یا دواړو ډول بیانوي ، لکه : جَاءَ سَلِيْمٌ رَاكِبًا (سلیم د سپرتیا په حال کي راغلی) ، ضَرَبْتُ زَيْدًا مَشْدُوْدًا (ما زید د تړلتیا په حال کي ووهی) ، لَقِيْتُ زَيْدًا رَاكِبَيْنِ (ما د زید سره د سپرتیا په حال کي وکتل) ، د کوم اسم چي کیفیت (ډول) بیانیږي هغه ته ذوالحال ویل کیږي .

(۷): تمیز

تمیز : هغه اسم دی چي د یو مبهم یعني پټ شي ابهام یعني پټ والی لیري کوي ، لکه : رَاَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا ، په دغه مثال کي (کوکب) تمیز دی چي د (احد عشر) څخه یې ابهام لیري کړ ، او تمیز چي د کوم شی څخه ابهام لیري کړی وي هغه ته ممیز ویل کیږي .

قاعده :

- تمیز د عدد ، وزن ، پیمانې ، او مساحت څخه ابهام پورته کوي د عدد مثال : رَاَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا او د وزن مثال : اِشْتَرَيْتُ كِيْلُوْ سَمَنًا ، د پیمانې مثال : بِعْتُ قَفِيْزَيْنِ بُرًّا د مساحت مثال: وَهَبْتُ جَرِيْبَيْنِ اَرْضًا.

پاملرنه:

(۸): دحروف مشبه بالفعل داسم بیان-(۹): دماولا مشبهاتان بلیس بیان- (۱۰): دلاء نفي جنس بیان -
(۱۰): دافعال ناقصه دخبر بیان دمرفوعاتوپه سلسله کي تېرسو.

(۱۲): د مستثنی بیان

مستثنی: هغه اسم ته ویل کیږي چي مخکنی حکم څخه د حرف استثنا په ذریعه راوتلی وي: لکه : جَاءَنِیْ الْقَوْمُ اِلَّا زَیْدً.

او مستثنی پر دوه دوله ده : مستثنی متصل ، مستثنی منقطع .

مستثنی متصل : هغه ده چي مستثنی په مستثنی منه کي داخله وي، لکه : (جَاءَنِیْ الْقَوْمُ اِلَّا زَیْدًا) دلته زید د قوم څخه یو کس دی .

مستثنی منقطع :هغه ده چي (مستثنی) په (مستثنی منه) کي داخله نه وي، مثال: (جَاءَنِیْ الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا) دلته حمار د قوم څخه نه دی .

(فصل)

مجرورات

مجرورات : هغه اسمونه دي چي اعراب یې جر وي . او مجرورات پر دوه ډوله دي : (۱) مجرور په حرف جر سره، (۲) مضاف الیه .

مضاف الیه : هغه اسم دی چي د هغه و طرف ته د یوې خبري نسبت سوی وي ، لکه : رَسُوْلُ اللهِ، قَلَمُ سَعِیْدٍ

قاعدې

- مضاف الیه تل مجرور وي او د مضاف اعراب د عامل د بدلېدلو سره اوړي .

مجرور په حروف جاره سره: هغه اسم دی چي دحرف جر د داخلیدلو په سبب ورباندي جر راغلی وي او حروف جاره اوولس دي :

شعر

با وتا وكاف ولام وواو منـــــذ مذ خلا

رب حـــــاشا من عدا فى عن على حتى الى

مثالونه : صَلَّيْتُ فِي الْمَسْجِدِ، تَاللهِ لَاكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ، اَحْمَدُ كَالْاَسَدِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، صِرْتُ مِنَ الْمَدِيْنَةِ اِلَى الْكَعْبَةِ، هُوَ عَلَى السَّقْفِ، سَاَلْتُ عَنِ الْكِتَابِ .

تمرين ١

گرانو شاگردانو! راتلونکو سوالونو ته صحیح جوابونه ووایاست!

(١): مرفوعات چاته ویل کیږي ؟

(٢): مرفوعات ټول څودي؟

(٣): مرفوعات معرب وي اوکه مبني ؟

(٤): دفاعل اونائب فاعل ترمابین څه فرق دی ؟

(٥): دنائب فاعل بل نوم څه شی دی؟

(٦): دمبتداء اوخبر تعریفونه څه ډول کیږي ؟

(٧): حروف مشبه بالفعل څو اوکوم کوم دي ؟

(٨): منصوبات ټول څودي ؟

(٩): دمفعول به اومفعول مطلق ترمابین څه فرق دی؟

(١٠): دمفعول معه او معفول فیه ترمابین څه فرق دی؟

(١١): دمفعول به اومفعول مطلق ترمابین څه فرق دی؟

(١٢): دمجرور بحرف جر اومجرور بالاضافة ترمابین فرق څنګه کیږي؟

تمرين ٢

ګرانو شاګردانو! په لاندي مثالونو کښي مرفوع، منصوب او مجرور وښوئ همداډول دهريوه قسم تعريف وکړئ!

(١): إِنَّ اللهَ عَلِيْمٌ، (٢): كَانَ اللهُ رَحِيْمًا، (٣): وَقَفْتُ عَلَى الدَّابَةِ، (٤): جِئْتُ مِنَ الْمَسْجِدِ، (٥): جَاهَدَ زُبَيْرٌ، (٦): قُتِلَ شَيْبَةُ، (٧): لَا إِيْمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ، (٨): لَا رَيْبَ فِيْهِ، (٩): مَا ظَلَمَهُمُ اللهُ، (١٠): قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، (١١): ضَرَبَ الْأَمِيْرُ الْجُنْدِيَّ، (١٢): جَلَسْتُ جَلْسَةً، (١٣): مَا هٰذَا بَشَراً، (١٤): مَا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ، (١٥): كَأَنَّ زَيْدًا قَمَرٌ، (١٦): يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي، (١٧): إِنَّ هُنَّ قَانِتَاتٌ، (١٨): صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، (١٩): جَاءَ الْأُسْتَاذُ وَالتِّلْمِيْذُ، (٢٠): ضَرَبْتُهُ تَأْدِيبًا، (٢١): سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا، (٢٢): أُذْكُرُ اللهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا، (٢٣): أَصْبَحَ زَيْدٌ ذَاكِرًا، (٢٣): كُوْنُوْا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا.

(فصل)

د اسم معرب اعراب

د اسم معرب اعراب کله په حرکت (زور ، زېر ، پېښ) سره وي چي هغه ته اعراب حرکاتي ویل کیږي او کله په حرف (الف ، واو ، یا) سره وي چي هغه ته حروفي ویل کیږي او اعراب کله لفظي وي په لفظ کي ښکاره کیږي چي لفظي اعراب ورته وائي ، او کله تقدیري وي په لفظ کي نه ښکاره کیږي بلکي پټ وي تقدیري اعراب ورته ویل کیږي ، همدا راز اعراب کله تبعي وي او کله غیر تبعي ، تبعي هغه قسم اعراب ته ویل کیږي چي ځیني اعرابي حالتونه دنورو تابع وي ، او غیر تبعي هغه ته ویل کیږي چي هیڅ اعرابي حالت دبل حالت تابع نه وي

د اسم معرب د اعراب اقسام

(١) اعراب حرکاتي لفظي غیر تبعي:

پورتنی د اعراب قسم هغه ته ویل کیږي چي په حالت د رفع کي پېښ (ضمه) وي او په حالت د نصب کي زور (فتحه) وي او په حالت د جر کي یې زېر (کسره) وي ، دغه ډول اعراب په درو اسمونو کي راځي:

أ. مفرد منصرف صحیح .

ب. مفرد منصرف جاري مجرىٰ الصحیح .

ج. جمع مکسر .

فائده :

- صحيح د نحويانو په اصطلاح کي هغه کلمه ده چي د هغه په آخر کي حرف علت نه وي ، لکه : رَجُلٌ: زَيْدٌ، سَعِيْدٌ.
- جاري مجرىٰ صحيح هغه اسم دی چي په آخر کي يې (واو) يا (ی) وي خو ما قبل يې ساکن وي ، لکه : دَلْوٌ (سلواغه) ظَبْيٌ (هوسۍ) .

مثالونه :

د مفرد منصرف صحيح مثال : هٰذا زَيْدٌ، رَاَيْتُ زَيْدًا، مَرَرْتُ بِزَيْدٍ ،

د مفرد منصرف جاري مجرى صحيح مثال : هٰذا دَلْوٌ وظَبْيٌ، رَاَيْتُ دَلْوًا وظَبْيًا ، مَرَرْتُ بِدَلْوٍ وظَبْيٍ

د جمع مکسر منصرف مثال: هٰؤُلاءِ رِجالٌ، رَاَيْتُ رِجالاً، مَرَرْتُ بِرِجالٍ

(٢)اعراب حرکاتي لفظي تبعي :

هغه اعراب دی چي په ده کي يو حالت د بل حالت تابع وي نور د اول په شان وي او دغه دوه صورتونه لري :

أ. **د جمع مؤنث سالم اعراب** : رفع يې په ضمه او نصب او جر يې په کسره سره وي. په دغه قسم کي نصب د جر تابع بلل کيږي ،لکه : هُنَّ مُسْلِماتٌ، رَاَيْتُ مُسْلِماتٍ، مَرَرْتُ بِمُسْلِماتٍ .

ب. **د غير منصرف اعراب** : رفع يې په ضمه سره او نصب او جر يې په فتحه سره وي په دغه قسم کي جر د نصب تابع بلل کيږي ، لکه : جاءَنِيْ عُمَرُ، رَاَيْتُ عُمَرَ، مَرَرْتُ بِعُمَرَ

(۳)اعراب حرکاتي تقدیري غیر تبعي :

هغه اعراب دی چي په لفظ کي یې تغیر نه راځي او یو حال یې د بل حال تابع هم نه وي او دغه ډول اعراب د اسم مقصور منصرف هم دی.

اسم مقصور

اسم مقصوره : هغه اسم دی چي په آخر کي یې (الف مقصوره) وي او اعراب یې په لاندي ډول دی :

رفعه په تقدیري ضمه سره ، نصب یې په تقدیري فتحه سره ، جر یې په تقدیري کسره سره دی . لکه : هٰذا عَصٰی، رَاَیْتُ عَصٰی، مَرَرْتُ بِعَصٰی .

(۴)اعراب حرکاتي تقدیري تبعي :

هغه اعراب چي په حرکت سره وي او په تقدیر سره وي او یو حالت یې د بل تابع وي دغه ډول اعراب د اسم مقصوره غیر منصرف لپاره دی د اسم مقصوره غیر منصرف اعراب رفع په تقدیر د ضمې نصب او جرئې په تقدیر د فتحې دی ،

مثال : جٰاءَ حُبْلٰی، رَاَیْتُ حُبْلٰی، مَرَرْتُ بِحُبْلٰی .

(۵)اعراب حرکاتي مشترک :

هغه اعراب چي په حرکت سره وي خو په بعضو حالاتو کي لفظي وي اوپه بعضو کي تقدیري وي دغه ډول اعراب د اسم منقوص لپاره دی

.

اسم منقوص

اسم منقوص : هغه اسم دی چي په آخر کي يې (يا) ساکن وي او د متکلم لپاره نه وي او ماقبل يې مکسور وي لکه : اَلْقَاضِیْ .

د اسم منقوص اعراب

رفع يې په تقدير د ضمې او نصب يې په لفظي فتحه او جر يې په تقديري کسره سره دی . لکه يې: جَاءَالْقَاضِیْ، رَاَیْتُ الْقَاضِیَ، مَرَرْتُ بِالْقَاضِی.

(۶)اعراب حروفي لفظي غير تبعي :

هغه اعراب دی چي په حروف (واو ، الف ، يا) سره وي په لفظ کي وي او يو حال يې د بل تابع نه وي .

اسماء سته مکبره

(اسماء سته)مکبره) شپږ دي : (اَبٌ،اَخٌ، حَمٌ، هَنٌ، فَمٌ، ذُوْمَالٍ) او اعراب يې رفعه په (واو) سره نصب يې په (الف) سره ، جر يې په (يا) سره په درو سرو حالاتو کښې يې اعراب لفظي دی .

او دغه اسمونو ته اعراب هغه وخت ورکول کيږي چي پنځه شرطونه ور پکښې موجود وي :

- (موحده) به وي يعني تثنيه او جمع به نه وي که يې دغه شرط پر ځای نه وي بيا دغه اعراب نه ورکول کيږي ، لکه : اَبَوَانِ، اَبَوَيْنِ.
- (مکبر) به وي مصغر به نه وي . لکه : اُبَیٌّ، اُخَیٌّ .
- (مضاف) به وي که مضاف نه وي بيا يې دغه اعراب نه دی ، لکه : اَبٌ، اَخٌ

✍ (د متکلم یا ته به مضاف نه وي) ، که د متکلم (یاء) ته مضاف سي اعراب یې دغه نه دی . لکه : اَبِيْ ،اَخِيْ

✍ (معرفه باللام ته به نه وي مضاف)، که هغه ته مضاف وي بیا دغه اعراب نه لري ، لکه : اَبُوالْقَاسَمِ.

د اسماء سته مکبره مثال: هٰذَااَبُوْکَ، رَاَيْتُ اَبَاکَ، مَرَرْتُ بِاَبِيْکَ .

(۷)اعراب حروفي لفظي:

هغه اعراب دی چي په حروفو وي په لفظ کي وي خو ځینی حالات یې د ځینو نورو تابع وي او دغه ډول اعراب پر دوه ډوله دی :

- **الف** : هغه دی چي رفع یې په الف او نصب او جر یې په (یا) ما قبل مفتوح سره وي دغه ډول اعراب په اسم متمکن کي په درو شیانو کي راځي :
- **مثنی حقیقي** : هغه تثنیه چي په خپل لفظ کي واحد هم لري او معنی یې هم د تثنیه وي، لکه : رَجُلَانِ، زَيْدَانِ داعراب مثالونه ئې: هٰذَانِ رَجُلَانِ، رَأَيْتُ رَجُلَيْنِ، مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ
- **مثنی معنوي** : هغه تثنیه ده چي د خپل لفظ څخه واحد نه لري خو معنی یې د تثنیې وي ، لکه : کِلَا، کِلْتَا داعراب مثالونه ئې: هٰذَانِ کِلَاهُمَا، هٰذَيْنِ کِلَيْهِمَا، مَرَرْتُ بِکِلَيْهِمَا
- **مثنی صوري** : هغه تثنیه ده چي د خپل لفظ څخه واحد نه لري مګر لفظ او معنی یې دواړه د تثنیې وي ، لکه: اِثْنَانِ، اِثْنَتَانِ
- داعراب مثالونه ئې: هٰذَانِ اِثْنَانِ ، رَأَيْتُ اِثْنَيْنِ، مَرَرْتُ بِاِثْنَيْنِ

- **باء** : هغه دی چي رفع يې په واو ما قبل مضموم نصب او جر يې په يا ماقبل مکسور سره وي دغه ډول اعراب په اسم متمکن کي درې قسمونه لري:
- **جمع حقيقي**: هغه جمع مذکر سالم ته وايي چي د خپل لفظ څخه واحد هم لري او لفظ ، معنی يې دواړه د جمع وي ، لکه : ضَارِبُوْنَ، مُسْلِمُوْنَ .

☆ داعراب مثالونه ئې: هؤلاء مُسْلِمُوْنَ ، رَأَيْتُ مُسْلِمِيْنَ ، مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيْنَ

☆ **جمع معنوي** : هغه جمع ته ويل کيږي چي د خپل لفظ څخه واحد نه لري او معنی يې د جمع وي ، لکه: اُوْلُوْا

☆ داعراب مثالونه ئې: هُمْ اُوْلُوْعِلْمٍ ، رَأَيْتُ اُوْلِيْ عِلْمٍ ، مَرَرْتُ بِأُوْلِيْ عِلْمٍ

☆ **جمع صوري** : هغه جمع ته وايي چي د خپل لفظ څخه مفرد نه لری لکن لفظ او معنی يې د جمع وي،لکه عشرون.

☆ داعراب مثالونه ئې: هُمْ عِشْرُوْنَ رَجُلًا، رَأَيْتُ عِشْرِيْنَ رَجُلًا، مَرَرْتُ بِعِشْرِيْنَ رَجُلًا

تمرين١

گرانو شاگردانو! راتلونکو سوالونو صحيح جوابونه ووایاست!

(١): داسم معرب په حراکاتو سره اعراب څنګه دی ؟

(٢): دحروفو اعراب يې څنګه دی ؟

(٣): لفظي اعراب يې کوم يودی ؟

(۴): تقديري اعراب يې څه ډول وي ؟

(۵): اعراب حرکاتي لفظي غيرتبعي کوم قسم وي؟

(۶): اعراب حرکاتي لفظي غيرتبعي څوقسمونه لري ؟

(٧): دمفرد منصرف صحيح تعريف وکړه.

(٨): دمفرد منصرف جاري مجرى الصحيح تعريف وکړه.

(٩): نحوي حضرات صحيح وچاته وايي ؟

(١٠): اعراب حرکاتي لفظي تبعي کوم قسم دی؟

(١١): اعراب حرکاتي لفظي تبعي څوقسمونه لري ويې وايه ؟

(١٢): دجمع مؤنث سالم اعراب څه ډول وي ؟

(١٣): دغير منصرف اعراب څه ډول وي ؟

(١۴): اعراب حرکاتي تقديري غيرتبعي کوم قسم وي؟

(١۵): اسم مقصورکوم اسم ته ويل کيږي ؟

(١۶): داسم مقصوراعراب تشريح کړئ ؟

١٧): اعراب حرکاتي تقديري تبعي کوم قسم دی ؟

(١٨): دغه پورتنی اعراب په کوم اسم کي راځي ؟

(١٩): اعراب حرکاتي مشترک کوم قسم ته ویل کیږي ؟

(٢٠): اعراب حرکاتي مشترک په کوم کوم اسم کي راځي ؟

(٢١): اسم منقوص تعریف کړئ!

(٢٢): اعراب حروفي لفظي غیر تبعي کوم قسم دی ؟

(٢٣): په کومو اسمونوکي راځي ؟

(٢٤): اسماء ستة مکبره څو اوکوم کوم دي ؟

(٢٥): اسماء ستة مکبره ته حروفي لفظي غیر تبعي اعراب په کومو شرطونو سره ورکول کیږي ؟

(٢٦): اعراب حروفي لفظي تبعي کوم قسم دی ؟

(٢٧): اعراب حروفي لفظي تبعي څو قسمونه لري ؟

(٢٨): مثنی حقیقي، صوري اومعنوي څه فرق لري!

(٢٩): دمثنی حقیقي اومعنوي اعراب څه ډول دی ؟

(٣٠): جمع حقیقي، صوري اومعنوي څه فرق سره لري ؟

تمرين ٢

ګرانو شاګردانو! په لاندي مثالونو کښي د اسم معرب د اعراب اقسام و ښوئ او د اعراب تفصيل يې بيان کړئ مثلاً: اعراب حرکاتي دی او که حروفي؟ لفظي دی که تقديري؟ تبعي دی او که غيري تبعي او همدا راز حالت رفعي، نصبي او جري يې څنګه دی؟

(١): يَتْلُو صُحُفًا مُطَهَّرَةً، (٢): حَلَبْتُ الْبَقَرَةَ، (٣): وَاجَهْتُ سَلْمَانَ فِيْ مَكَّةَ، (٤): حَمُوْكَ رَجُلٌ صَالِحٌ، (٥): حَضَرَتِ الطَّالِبَتَانِ فِي الْفَصَلِ، (٦): وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوْسَى، (٧): أَلرَّاشِيْ وَالْمُرْتَشِيْ كِلَاهُمَا فِي النَّارِ، (٨): وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى، (٩): أَخَذْتُ الْكِتَابَيْنِ، (١٠): إِنِّيْ أَنَا أَخُوْكَ، (١١): طَعَامُ الْوَاحِدِ يَكْفِيْ اِثْنَيْنِ، (١٢): عِنْدِيْ قَلَمٌ أَخْضَرُ، (١٣): سَئَلْتُ نُعْمَانَ، (١٤): فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ، (١٥): حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ، (١٦): كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ آتَتْ أُكُلَهَا، (١٧): اِشْتَرَيْتُ كُتُبًا، (١٨): أَحْسَنُ الْهُدَى هُدَى محمد ﷺ، (١٩): وَكَانَ اللهُ عَلِيمًا حَكِيمًا، (٢٠): لَا تَرْغَبُوْا عَنْ آبَائِكُمْ، (٢١): صَلَّيْتُ فِيْ مَسَاجِدِ الْعَاصِمَةِ، (٢٢): ذَبَحْتُ الدَّجَّاجَاتِ، (٢٣): إِنِّيْ لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ، (٢٤): نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ، (٢٥): لَقِيَتْ فَاطِمَةُ زَيْنَبَ، (٢٦): عُمَرُ أَخُوْكَ، (٢٧): أَلْاِثْنَانِ فَمَا فَوْقَهَا جَمَاعَةٌ، (٢٨): أَبُوْنَا آدَمُ، (٢٦): أَلْعُلَمَاءُ أُوْلُوا الْعِلْمِ، (٢٦): فِيهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ.

تمت بالخير